فخر او کبر مه کوه

لوی خدای(جل جلاله) فرمایی: «په کبر سره خلکوته مخ مه گرزوه، په ځمکه کی په ناز او په نخرو تگ مه کوه! بی شکه الله (ج) هر کبر کوونکی فخر کوونکی نه خوښوي. (سورة لقمان)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

کبرجن جنت ته نشی تلای

حضرت ابن مسعود (رضی الله عنه) وایی: دالله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دي: «دچا په زړه کی چی د مثقال د زړی غوندی کبر وی، هغه به جنت ته ولاړ نشي، یوه سړي وویل: سړی خو دا خوښوی چی جامی او بوټونه یی ښایسته وی (نو دابه هم کبر وی؟) هغه (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: الله (ج) ښایسته ده، ښایست خوښوی، کبر حق باطلول او خلکوته په خواره سترگه کتل دی. (مسلم - مشکوة)

لومړی کال — پنځه ویشتمه گڼه — دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال د سرطان د میاشتی (٤) — د ۱۹۹۶ میلادی کال د جون(۲۳) — د۱٤۱۷ ق کال صفر المظفر (۸)

دکابل ائتلافی اداره په پام کی لری هغه جنرالان او ملکی کسان چی په پخوانی کمونیست رژیم کی یی په حساسو پوستونو کار کاوه کابل ته وغواړی

دوی غواړی چی د همدغو ورانکارو په مرسته وطن لاپسی په کنډوالو بدل کړی

د بریوالو خبری منابعو د خبرله مخی دکابل تش په نامه اداره په پام کی لری یو شمیر هغه جنرالان او ملکی کسان چی د پخوانی کمونیست رژیم په حساسو پوستونوکی یی کار کاوه له روس ځخه راوغواړی او د هیواد په بیا دوانولو کی فعاله برخه ورکړی، په داسی حال کی چی وطن همدغو کسانو وران کړی او په کنډواله بدل کړی دی. د باوری خبرځایونو د خبر له مخی په تیرو څو ورځوکی په مسکو کی د کابل د اداری د سفارت کارکوونکو له یو شمیر پخوانیو عسکری او ملکی کسانو سره کتلی او هغوی یی کابل ته دتللو لپاره هڅولی دی. ٤مخ

در ولسوالی ادرسکن پنج نفر قطاع الطریق به شمول پسر شاروال سابقهٔ هرات دستگیر گردید

خبرنگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که پنج نفر قطاع الطریق و چپاولگران سرمایه های ملی که در جمله آنها پسر شاروال سابقه، هرات غلام یحیی خان هم شامل میباشد در ولسوالی ادرسکن ولایت هرات قریه، میرداود وقت از طرف مسئولین امنیتی تحریک اسلامی طالبان دستگیر گردیدند که دو عراده موتر را بعد از مقاومت دریوران عراده جات متذکره غصب، حریق و یکتن را بشهادت رسانیده بودند که مجرمین غرض تحقیق وطی مراتب قانونی و شرعی به قوماندانی امنیه تسلیم داده شدند.

حزب اسلامی په لغمان کی د عالمانو او طالبانو گرفتاری ته لاس اچولی دی

٤مخ

مولوی نورمحمد (ثاقب) شریعت اوونیزی ته وویل:

د برهان الدین او گلبدین نوی ائتلاف پر ځای ددی چه د افغانستان مسئله حل کیدوته ور نژدی کړی نوره یی هم پیچیده او جنجالی گرځوی

۳ د سرطان سنه ۱۳۷۵ هـ ش لکه ځرنگه چه گران هیواد وال خبر دی چه د ناکامو او بی نتیجی ائتلافونو په جمله کښی د برهان الدین او گلبدین تر مینځ بونوی ائتلاف مینځ ته راغلی. ددی ائتلاف په متعلق مولوی نور محمد «ثاقب» د نظر ځرگندولو په ترځ کښ ووبل: د برهان الدین گلبدین له دغه نوی ائتلاف ځخه د افغانستان مسلمان او مظلوم ٤مخ

ربانی او گلبدین د افغانستان د اقتدار څه میراث خواره خونه دی چی قدرت یوازی د دوی په برخه رسیدلی دی

(شیخ الحدیث مولانا حسن جان)

جنرال حمید گل در گفتگو با مجله، تکبیر:

امریکا با گروه طالبان مخالف است

طالبانو تکل کړی چی په ټول افغانستان کی به امن او اسلامی نظام راولی

(مولوی یارمحمد)

دا دی نن د هیواد په زیاته برخه کی امن تأمین او شریعت نافذ دی

(شیخ الحدیث مولوی عبدالحنان)

دطالبانو د اسلامی تحریک لاره د حق لاره ده او دا هغه لاره ده چی دملك زیاته برخه یی له شر او فتنی ځخه ژغورلی ده

(شیخ الحدیث مولوی محمد صادق)

په افغانستان کی له اسلام نه پرته بل نظام نه شی چلیدلای

(مولوی محی الدین)

په څو تیرو ورځو کی د پاکستان او ایران یو شمیر علماء کرام کندهار، هرات او دهیواد ځینو نورو ولایاتو ته تللی وو. دوی په هرات کی یوه ستره غونډه در لوده چی یو شمیر مشهورو علماو پکی وینا وی واوروله چی دادی دهغی غونډی لنډ راپور وړاندی کیږی (اداره)

د تیری چهارشنبی په ورځ د هرات ولایت د مقام په تالار کی د سهارله ۹ بجو ځخه دغرمی تر ۱۲ بجو پوری غونډه جوړه شوی وه. غونډه د عظیم الشأن قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه، وروسته د هرات والی محترم حاجی ملایارمحمد اخند په افتتاحیه وینا کی وویل موږ پدی ډیر وياړو چه څموږ ۲مخ

امریکا اکنون نه تنها وجود و اهمیت حکمتیار را قبول دارد بلکه آماده است از اتحاد حکمتیار و ربانی نیز استقبال کند

جنرال حمیدگل رهبر سابقه، دستگاه مهم اطلاعاتی نظامی پاکستان که در این اواخر از امریکا باز دید بعمل آورده و با ذوات مهم و با نفوذ امریکائی پیرامون قضایای منطقه و جهان ملاقات هایی داشته، مجله، (تکبیر) که مربوط جماعت اسلامی پاکستان بوده و با حلقات I.S.I پاکستان وابستگی نزدیك دارد با جنرال موصوف مصاحبه داشته که در یك قسمت آن آمده است:

خیلی جای تعجب است که امریکا نسبت به گروه طالبان علاقه و دلچسپی چندان نداشت، خود را از آنها بی ارتباط جلوه میداد. امریکا پاکستان را متهم میشود که از گروه طالبان حمایت و پشتیبانی میکند. ص ٤

شریعت — سرمقاله

ائتلاف کابل و کمونست های گریخته به مسکو

اداره، ربانی که پیش از این نیز پناه گاه مستحکم کمونستان (دشمنان مردم) بوده ولی ائتلاف جدید اداره، مذکور را از پناه گاه به سنگر مستحکم این دشمنان ملت مسلمان ما تبدیل کرده است؛ گرچه اداره، کابل مراوده خود را با مسکو از اول وقت به رفت و آمد و فود ماموریں بلند رتبه جانبین حفظ کرده است. داکتر عبدالرحمن یکی از وزیران متعمد آن اداره و امثال وی بارها بمسکو وشاخه های مسکو سفر ها می نموده است. در آن وقت سفر ها و مراودات مذکور نیمه خفی و تقریباً غیر اعلان شده اجراء میگردید ولی بعد از ائتلاف جدید همه روزه باب نوی از ابواب شرور غیر مترقبه بر رخ ملت مسلمان و مجاهد افغانستان می گشایند که یکی از آن دعوت کمونستان گریخته بمسکو- اولین پایگاه کمونیزم شکست خورده- بکابل است.

اداره، کابل که از اول پشتوانه مردمی چندانی نداشت نیات شان برای مردم خود دشمنانه بوده است که خون شان را بی محابا ریختاندند، سرپناه شان را ویران و اموال شان را به ذریعه بقایای کمونیزم که تا اکنون در همین اداره نفوذ و حیثیت کلیدی دارند به یغما می بردند، پس از ائتلاف که همین اداره خود را دارای پشتوانه، محکم و هم مانند خود حس میکند دیگر مراوده و رفت و آمدهای شان با مسکو و شاخه های آن علنی بوده میخواهند دشمنان گریخته مردم مسلمان ما به آنجا ها را واپس برای کوفتن ذهنی و جسمی مسلمانان مجاهد افغانستان احضار نمایند؛ به این ترتیب پیشین گویی راستین شهدای کرام و مجاهدین مخلص متحقق و راست گردید که در زمان جهاد میگفتند: اگر جهاد کامیاب هم شود قدرت بدست نااهلان خواهد رسید و دشمنان ما بر مردم ما حکومت خواهند کرد...! توقع مجاهدین و مردم مسلمان افغانستان از دولتیکه به نام اسلام و جهاد بقدرت رسانیده شد این بود که در نخستین وهله، قدرت غمخواری یتیمان، بیوگان و بازمانده گان شهدای کرام جهاد رحمهم الله تعالی و اهتمام به دلجویی و معیشت معلولین جهاد میکند و روی هم رفته پایه های دولت اسلامی را ثابت و استوار خواهد ساخت؛ از مسکو و وابسته گان آن غرامت جنگ و عوض اتلافهای جانی و مالی و ملی ملت مسلمان ما مطالبه و بدست خواهد آورد، کمونستان افغانی که مجرمین اصلی این همه جنایت های دو عشره، اخیر در افغانستان و بمسکو و شاخه های آن گریخته اند از روس و وابسته گان آن مسترد خواهد کرد تا دوران محاکمه شرعی و قانونی را سپری نموده جزای جنایت های شان را ببینند، و از هزاران رجال علمی و روحانی و سیاسی افغانستان که از زمان تسلط کمونستها تا اکنون مفقود اند بازجویی خواهد کرد.

بدبختانه که در رأس اداره، شخص چون ربانی قرار گرفت که بظاهر پرفیسور حدیث و بنام استاد و دانشمند یاد میشود و لی پس از

(ص۲)

ددامان په ولسوالی کی د بنگو شین فصل واړول شو

دغه راز د کندهار ولایت د دامان له ولسوالی ځخه زموږ د خبریال د خبرله مخی په هغی ولسوالی کی د مؤظفینو طالبانو له خوا په بنگو باندی کرل شوی ځمکی چیه کړای شوی او خلکوته سپارښتنه وشوه چی وروسته له دی به دبنگو له ۳مخ

دطالبانو د اسلامی تحریک یو لوړ رتبه هیئت په امریکا کی د میشتو افغانانو په بلنه واشنگټن ته ورسید

د طالبانو د اسلامی تحریک د عالی شوری د غړی محترم حاجی ملامحمد غوث اخند په مشری د طالبانو د اسلامی تحریک هغه لوړ رتبه هیئت چی په امریکا کی د میشتو افغانانو په بلنه نیویارك ته رسیدلی و په واشنگټن کی د میشتو افغانانو په غوښتنه د جوزا په ۲۹ نیټه واشنگټن ته ورسید. هیئت ته واشنگټن ته په رسیدوسره ډیر زیات شمیر افغانانو له خوا تود هرکلی

مسلمانی عقیده

دوهم مخ

عیسائیت او بین المللی اړیکی

دوهم مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) و آغاز انحراف

صفحه دوم

وعده دی ولی هیره کړه؟

ص ۳

د ادب ملغلری

(دریم مخ)

په قاهره کی د عربی هیوادونو سرتولنه پیل شوه

ص ٤

د مصر په قاهره کی دعربی هیوادونو سرټولنه د تیری شنبی په ورځ پیل شوه په دغه غونډه کی دټولو عربی هیوادونو مشرانو گډون کړی دی.

دوی د اسرائیلو د نوی حکومت د صدراعظم بنیامین ناتن یاهو پر هغو پالیسو خبری کوی چی ده ویلی وو اسرائیل به په ټولو شوبو عربی سیمو باندی خپل ٤مخ

دکابل د قروغ په غره کی ائتلافی ملیشوته یو ځل بیا غابښ ماتوونکی گوزارونه ورکړل شول

پنځلس مړي یي د جنگ په میدان پاتي شول او نورو ملیشه یي خواکونو د تیښتي لار ونیوله

دحزب او کابل اداری له ائتلاف نه وروسته دا محروم ځل دی چی د طالبانو پر خلاف ناکام بریدونه کیږی

له میدان ښار ځخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دکابل د ائتلافی اداری ځواکونو یو ځل بیا وغوښتل چی د طالبانو د اسلامی غورځنگ په لومړیو کرښو باندی خپل بریدونه پیل او په دی توگه یو ځل بیا خپل زور وازمایی. ٤مخ

ما طالب رضای خدا (جل جلاله) و مجاهد سنگر شریعتیم

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک .
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال میشه تر کتني لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوي احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پېښور کښې د طالبانو اسلامي تحریک نمایندګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کښې (۲۰۰) افغانۍ
په پاکستان کښې (۳) کلدارې

سرمقاله ...

حصول قدرت-یا شاید پیش از آن - نه استاذی دروی دیده شد و نه نشانه ای از دانشمندی و خدا ترسی، از همان روز اول اقتدار موجب قتل، تباهی، ویرانی و بربادی مملکت و مردم ما بار آمد، بجای غمخواری یتیمان وبیوگان و معلولین و مستمندان ملت دار و دسته، محدود اطرافیان خود را وارسی و اهتمام همه جانبه خود را به آنها مبذول داشت، بجای اقامه، و استحکام دولت اسلامی مبنی بقوانین اسلامی، سد محکم و مانع سر سخت بر پا کردن نظام اسلامی، امنیت، ثبات سیاسی و اقتصادی و اجتماعی افغانستان گردید، بجای خراسان غرامت و تاوان جنگ از روسها و حامیان شان برای حفظ اقتدار ناروا و غیر قانونی خود با آنها روابط نزدیك دوستانه و صمیمی بر پا نموده از این هم بالا خیز زده آنها را - بگمان خودش - یك سر از همه چیز معاف کرد، بجای احضار کمونستهای جنایت کارو مجرم افغانی از مسکو و حواشی آن، آنها را تا اکنون بواسطه کمونستهای برحال در اداره کابل و روابط پوشیده مطمئن و خوش نگهداشت و پس از ایتلاف جدید که پایه خود را قدری محکم دید از آنها دعوت بعمل آورد که با اعزاز و اکرام به افغانستان بیایند و محترمانه در پست های بلند عسکری و کشوری جاهای خود را بگیرند. و بجای باز جویی رجال نخبه و محترم افغانی مفقود کرده، کمونستهای روسی و افغانی، در رهایی هفت نفر عمله هواپیمای روسی که در قندهار از طرف تحریك اسلامی طالبان به غرض باز یابی حیات و ممات ده ها هزار مفقود از بزرگان ما بطور گروگان نگهداشته شده است ، همه سعی و نیرنگ ناکام خود را بکار انداخت. قصه ربانی اکنون بجایی رسیده که مردم افغانستان او را دشمن خون خوار این جامعه، مسلمان تصور کرده گله و شکوه ای از وی نمیکنند و نه او را رئیس شرعی و قانونی دولت میدانند ویته هست بلکه در صدد چاره و موقع بر انداختن اویند.

اما تعجب مردم از حکمتیار است که در زندگی سیاسی اش خود را دشمن درجه یك حکومت غیر قانونی وغیر منتخب میدانست، با کمونستهای مربوط به احمد شاه مسعود حساسیت شدید نشان میداد، کسی تصور نمی کرد که با آنهمه حساسیت، و آنهمه شعور سیاسی و قاطعیت - که وی را به آن می ستودند - با چنین حکومتی و چنان اداره، معجون مرکب از پاك و نا پاك کنار بیاید، در چنین اداره صدر اعظم شود حلف وفاداری یاد کند، کابینه تشکیل دهد و از آنها حلف وفاداری اخذ نماید.

اگر این کار در ابتدای اقتدار ربانی که مشوره، همه قوتهای جهاد در آن دخیل بود و یا همین حالاً بعد از استعفای ربانی برای تشکیل حکومت عبوری و هموار کردي راه انتخابات صورت میگرفت گامی بسوی حل مشکل بشمار رفته سبب خوشی همه مسلمانان میشد ولي اکنون نه اینست و نه آن، بلکه تمهیدی است برای تشکیل حکومت دو جزبی و مقدمه ای است برای عواقب وخیم و حوادث جبران ناپذیر.

فهمیده نمیشود که حکمتیار در زیر افسون چه کسی رفته؟ و چه انگیزه ای وی را وا داشت که با آن همه نارضایتی مسلمانان افغانستان، همه ناخوشی قوتهای جهادی و آن همه دلگیری برادران حزبی اش به این عمل خطیر دست زد؟ آنچه وی و اداره، ربانی این عمل را گامی بسوی تفاهم و ......، می نامند کذب آن اشکار است زیرا این دعوت بازی دهنده تا اکنون در دوست های نزدیك حکمتیار (شورای هماهنگی) کارگر نیفتیده است که بیایند و به این دروازه تفاهم که به هر دو پله باز است بخوشی در آیند و گم شده، شان را باز یابند، بدیگران چه رسد؟

هیچ مسلمان کامل نخواهد بود که به آشتی دو برادر در ملولو، وباهم نزدیکی مسلمانان، نا خوش باشد، بلکه ناخوشی بسبب خطرات بعدی و شر مستطیر است که در ورای این همه تشریفات و مانورها نهفته است، فنعوذ بالله من شرور انفسنا و من سیات اعمالنا ■

د مسلماني عقيده

غازي خيل

دربوشتمه برخه

- فقهي تاريخ او ځلور مذهبونه

د ځلورم دور ځلورم توپیر د حدیثونو تدوین: دغه د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم د سنتو او حدیثونو کره کوونکی دور ؤ، ځکه چی د روایت کوونکو (رح) دی خبری ته پام شو چی د حدیثونو تصنیف او تدوین ډیر ضروري کار دی، د تصنیف معنی داده چی ډېری موضوع حدیثونه ټول په یوه ځای را غونډ شی لکه د ملځه حدیثونه، د روژی حدیثونه او داسی نور؛

دغه فکر په ټولو اسلامي ښارونوکی تقریباً په یوه وخت پیدا شو دامعلومه نه ده چی د لومړی توب فضیلت چا ګټلی دی؟!

په دغه دور کی د لومړی طبقی له تدوین کوونکونه امام مالك (رحمه الله تعالی) په نهینه منوره کی، عبدالملك بن عبدالعزیز بن یح رحمه الله تعالی په مکه مکرمه کی، سفیان ثوری رحمه الله تعالی، په کوفه کی، حماد بن سلمه او سعید بن ابی عروبة رحمهما الله تعالی، په بصره کی، هشیم بن بشیر رحمه الله تعالی، په واسط کی، عبدالرحمن او زاعی رحمه الله تعالی، په شام کی، معمر بن راشد رحمه الله تعالی، په یمن کی عبدالله بن المبارك رحمه الله تعالی، په خراسان کی اوجریر بن عبدالحمید رحمه الله تعالی په ری (تهران) کی وو، دغه کار په یوسل او څودپاسه ځلویښتم هجری کال کی ؤ، مګر په دغو کتابونو کی حدیثونه او اثار (د اصحاباتو (رض) قول، سره ګډ وو لکه چی د امام مالك (رح) په موطأ کی معلومیږي؛

دوهمی طبقی تدوین کوونکو (رح) د (۲۰۰هـ) نه وروسته بیا داسی هوډ وکړ چی د رسول الله (صلی الله علیه و آله وسلم) حدیثونه له نورو اقوالو نه بیل کړی نو هغه کتابونه یی تألیف کړل چی مسانید ورته ویل کیږي لکه: د عبدالله بن موسی الکوفي(رح) مسند، د مسدد بن مسرهد البصري(رح) مسند، د اسد بن موسی المصري (رح) مسند، د نعیم بن حمد الخزاعي(رح) مسند، د اسحاق بن راهوید(رح) مسند، د عثمان بن ابی شیبه(رح) مسند او د امام احمد بن حنبل (رح) مسند: دغو مصنفینو(رح) دهر یوه راوی دروایتونو لپاره یوه برخه ټاکلی ده: مثلاً د ابوبکر صدیق(رضی الله تعالی عنه) ټول روایتونه یی په یوه ځای غونډ کړی دی هغه ته د ابوبکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) مسند وایی او داسی نور؛ له دغو مسانیدو څخه چی موږ ته را رسیدلی د امام احمد بن حنبل (رح) مسند او د ابن ابی شیبه (رح) مسند او د عبدالرزاق (رح) مسند دی؛

له دغی طبقی نه وروسته بله طبقه راغله چی ګوری مخی ته یی د حدیثونو لویه خزانه پرته ده نو دوی نوی لاره پرانستله چی د اختیارولو او خوښه ولو لاره وه.

ددغی طبقی په سر کی دوه لوی امامان وو یو: ابوعبدالله محمد بن اسماعیل البخاري چی په (۲۵۶هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی او بل مسلم بن الحجاج النیسابوری (نیشاپوری) چی په (۲۶۱هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی دوی دواړو خپل صحیحین له ډیر غور او څیړنی وروسته د ډیرو کره روایتونو په خوښولوسره تصنیف کړل؛

له دوی سره یو رنګه ابو داؤد سلیمان بن اشعث السجستانی[1] (سیستانی) چی په (۲۵۷هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی، ابو عیسی محمد بن عیسی الترمذی چی په (۲۷۹هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی، ابوعبدالله محمد بن یزید القزوینی چی په ابن ماجه شهرت لری او په (۲۷۳هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی او ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب النسائی چی په (۳۰۳هـ) کی وفات شو رحمه الله تعالی خپل کتابونه تصنیف کړل دغه تصنیفونه په - شپږو صحیحو (صحاح السته) مشهور دی دغو کتابونو د مسلمانانو په وړاندی د اعتبار لوړه پوړۍ مېندلی ده ځکه چی روایت کوونکی یی سخت د پاخه اعتماد خاوندان دی، رحمهم الله تعالی بیاپه تیره د بخاری(رح) او مسلم(رح) صحیحین: له دغو شپږو پرته نور مؤلفین (رح) هم ډیر دی خو دوی زیات شهرت موندلی دی؛

په دغه دور کی له تابعینو او راوروستو علماوو ته داسی [illegible] هست یی د [illegible] هره یو روایت کوونکی [illegible] متنونو ستایلی دی چی [illegible] ضبط اتقان او [illegible] دی پوهیږي: دغه علمای کرام (رح) په (رجال الجرح و التعدیل) شهرت لری، کوم روایت کوونکی چی دوی تجریح کړی وی د هغه حدیث ته څوك اعتبار نه ورکوی؛ په څینو روایت کوونکو کی دغه رجال اختلاف لری څینی داسی روایت کوونکی دی چی په تعدیل، ضبط او اتقان یی دټولو اتفاق وی دغه ترټولو د اعتبار لوړه پوړۍ ده، په دی منځ کی څینی پوړۍ (درجی) پورته او څینی ښکته دی د حدیث داسی ستدونه هم شته دی چی د لمر غوندی ځلیږي چی روایت یی واوریدل شی نو تقریباً یقین او باور پیدا کیږي چی رښتونی دی او څینی نور بیا له دی نه ښکته دی.

په دغه دور کی د سنت او حدیث کار داسی حدته ورسیده چی ځانګړی علم شو او ځانګړی یی رجال چی شول یو مخ نی ځان دغی څیړنی ته فارغ کړی وو، که څه هم په فقه کی ی د استنباط او اجتهاد قوت او نفوذ نه درلود.

(انوربیا)

په افغانستان کی د سولی لپاره هلی ځلی که ناوړه ساز شونه؟

ليکونکی حافظ راشدالحق د سناتور مولنا سميع الحق زوی — د داکتر محمدعلم خان «صدرد» زيار

په افغانستان کښی له پنځلس کاله مسلح جهاد څخه وروسته چی آخر د روس په عبرت ناك او شر موونکی شکست تمام شو او بیا د همدی اسلامي ګوزار په نتیجه کی پخوانی شوروی اتحاد دړی وړی شو ان تر دی پوری چی د هغه وجود هم له منځه ولاړ. نو مسلمانان په ډیره خوشحالی په دی تمه شول چی اوس به په افغانستان کښی خالص شرعی او اسلامی انقلابی حکومت جوړ شی، چیرته به چی امن، پخلاینه، عدل او انصاف او اسلامی قوانین وی (ای بسا آرزو که خاك شده)

په افغانستان کښی خو روسی ښامار ذلیل شو او وتښتیده، خو بیا هغه څه وشول چی نقشه او (منصوبه بندي) پلان یی غربي قوتونو او دنړی استعماري قوتو د جهاد په دوران کښی جوړ کړی و او هغه دا چی په هیڅ صورت په افغانستان کی خالص اسلامی نظام او د پاك شریعت نفاذونه شی، او بیا د دغو منصوبو په تکمیلولو کښی هم ځینو جهادی قوتونو په پوهی او نا پوهی سره خپل کردار تر سره کړ، او اوس د افغانستان په حالاتو هر دردمند مسلمان د وینو اوښکی تویوی (ژاړي).

د چا په ګومان کښی هم دا خبره نه وه چی همدغه جهادی قوتونه او مجاهدین به یو بل سره لاس په ګریوان کیږي او د لا دینه عناصرو او د جهاد څخه ناخبره مسلمانانو د خندا وړ به ګرځی او اوس نړیوالو په ستر ګو دا ولیدل چی د روس د ماتی څخه وروسته د کابل ښار کښی دومره خونړۍ ننښتی وشوی چی پنځلسو کالو کښی هم دو مره بر بادی نه وه شوی.

نو ځکه د همدغو حالاتو په لیدلو سره د عالم اسلام زړه سواندی مشران او لار ښوونکی او د نورو اسلامی ملکونو مقتدره دینی مشران او لار ښوونکی مجبور شول چی د جهادی مشرانو په منځ کښی روغه جوړه او د بیروالی لپاره خپلی هلی ځلی ګړندی کړی. خو د دی هلو ځلو هم څه نتیجه را و نه وتله او دی لړ کښی په بیت الله کښی شوی ترون او د سرور کائنات محمد (ص) په پاکه روضه کښی په شوی وعدو هم وفا ونشوه، تر دی چی الله تعالی (ج) د افغانستان غیرتی مسلمانان د حالاتو د جوړولو لپاره د فرښتو صورت او سیرت لرونکی انسانان یعنی طالبان انتخاب کړل.

(که الله وغواړی تاسی به لری کړی او نوی مخلوق به را پیدا کړی.) (آیت)

طالبان هم هغه مجاهدین دی چاچی په تش لاس سره د ایمان په قوت د جهاد ابتدا کړی وه دا هغه وخت و چی له دوی سره نه راکټ لانچرونه وو او نه له نورو مختلفو ملکونو څخه را لیږل شوی کلاشنکوفونه او توری درندی او سپکی وسلی وی. دغو خلکو فی سبیل الله د الله (ج) لپاره جهاد وکړ او قربانۍ یی ورکړی. خو د روسی قواو له شکست خوړلو څخه وروسته چی په رسوائی سره له افغانستان څخه ووتی نو دغه فقیران خپل تعلیم او تدریس کښی مشغول شول او د دوی دافکر و چی اوس به دا لاربښوونکی یا مشران په یوځای کیدلو سره دا مسله حل کړی او په خپلو هلو ځلو سره به اسلامی حکومت جوړ کړی.

تر څو چی د پنځلس کالو د جهاد او قربانیو ثمره په خپلو سترګو وګوری. خوافسوس دی چی د دغو مشرانو د روس له شکسته وروسته ځینی داسی نوری کار نامی تر سره کړی چی د هغو له امله په ټول عالم کښی د جهاد نوم بد شو. او چیرته چی په نړۍ کښی مسلمانان له باطلو قوتونو سره په جهاد کښی وو دهغوی مرقف ته سخت نقصان ورسید او مخالفینو ته د زهر جنو تبلیغاتو کولو موقع په لاس ورغله په افغانستان کی چی د جهاد ثمره دخلکو لاس ته ورتغله نو هلته څه وشول. کاشکی د افغانستان دجهاد مشرانو له عقل څخه کار اخستی وای نو اوس به موږ دا ورځی نه لیدلی. لاکن دا خبره دلر په شان سکاره ده چی د افغانستان د مظلوم ملت لپاره خو څه و نشول مګر دی رهبرانو مزی او چرچی وکړی او نن ورځ د دوی دمانیو، کوروټو، جائیدادونو او د بانك د بیلانس هیڅ حدنشته. نود دوی د مظلوم ملت له ګټی سره څه کار دی؟

په افغانستان کښی د هر رهبر، امیر یا قوماندان واکمنی په هره علاقه چی راغله د ظلم،جور چپاول او په ناموس دتیرینو داسی مظاهری په سترګو شوی چی خلکو د کمونستانو ظلم او ستم هیر کړ. طالبان چی په دینی مدرسو کښی په زده کړه بوخت دی د حالاتو په نزاکت پوهیدلو سره یی مدرسی پریښودلی او را میدان ته شول او ورو ورو یی د مظلوم ملت ملاتړ تر لاسه کړ چی وادی د افغانستان په نیمائي برخه باندی یی لاس وموند او الحمدالله نن یی دخپلو په لاس لاندی علاقو کښی مکمل شریعت عملی کړی دی.

دلته دا خبره د ذکر وړ ده چی د ګلبدین حکمتیار او پروفیسر ربانی په منځ کښی د خپل منځی جګړو په نتیجه کښی له پنځلوس زره څخه زیات خلك مړه شوی دی او د زخمیانو معیبونو او مهاجرو تعداد خو له دی څخه څو چنده زیات دی هم دا ډول په قسمتی سره استاد عبدالرب رسول سیاف هم له ربانی سره یو ځای په ظلم کښی شرکت او د طالبانو دمقدس تحریك په خلاف د ده خبری عامی دی له طالبانو سره په دښمنی کښی دوی ټول اخلاقی او شرعی حدود تر پښو لاندی کړی دی، ګلبدین حکمتیار د ربانی حکومت د روس او هندوستان لاس پوځی حکومت ګیلو. او اخبارونه د دی ګواه دی چی ده په ویل چی افغانستان به دهندوستان د اوی جوړیدلوته اجازه نه ورکوو حو ... دی خپله له ربانی سره یو ځای کیږي. اوس چی افغانستان کښی شخړی روانی دی او ملګرو ملتونو خپل نماینده محمود مستیری بیابیا افغانستان ته را لیږلی او همدا ډول امریکا خپل خصوصی نماینده میرمن راین رافیل د سولی د حل لپاره اسلام آباد او کابل ته ولیږله لاکن دوی هم له ناکامی سره مخ شول. طالبان په میرمن راین رافیل (۳مخ)

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

مشروطیت (ثانی) وآغاز انحراف

قلمه، جوادی

قسمت هشتم

کودتای دسته،ارگ شاهی:

قبل از آنکه به اصل موضوع تماس بگیریم لازم میناید سؤال را مطرح نمائیم که ذهن اکثر خوانندگان و علاقمندان قضایای تاریخی و سیاسی کشور را به خود جلب نموده که: چرا روشنفکران! امان الله خان را بر نصرالله خان نائب السلطنه غرض بر آورده شدن اهداف خود ترجیح دادند! در حالیکه نصرالله خان یك عنصر ضد انگلیس و خواهان جدی استقلال کشور و محور بسیاری از فعالیتهای ضد انگلیس در داخل و بیرون از سرحدات کشور محسوب میگردید. و نسبت به همه، درباریان شخص متدین و ملی مشرب پنداشته میشد و علاقه و ارتباط نزدیك و وثیق با طبقات و اقشار مختلف کشور از قبیل روحانیون، علماء، خوانین و متنفذین کشور داشت، چون یك عنصر ضد انگلیس بود مورد دلچسپی و علاقمندی اکثری روحانیون کشور قرار گرفته بود، تا اگر توانسته باشند از طریق آن شاه عیاش و انگلیس مشرب را به جهاد علیه انگلیس وادار سازند. نصرالله خان حافظ قرآن کریم و به گفته، سردار عبدالوهاب جان برادر امان الله خان که در قید حیات بوده و فعلاً در پشاور زنده گی دارد، در طریقه عالیه نقشبندیه مرید حضرات مجددی چهارباغ بودند، و از تعیش وطرز زنده گی غربی نفرت داشتند.

در زمینه عبدالحی حبیبی در کتاب خود (جنبش مشروطیت در افغانستان) جواب و توجیه روشنفکران! را چنین بیان میدارد: (اصلاح طلبان! لیبرال دربار که از روش امیر حبیب الله خان متنفر بودند، خود قدرت حرکتی نداشتند جز آنکه در دور یکی از اعضاء خاندان شاهی جمع شوند، این شخص سردار نصرالله خان نائب السلطنه بزرگترین فرد خانواده، شاه نبود زیرا او با آنکه ضد استعمار و خواهان استقلال کشور بود، در اداره، دولت دل بستگی به نظام قرون وسطائی و سلطنت مطلق العنان شخصی داشت).

غبار، علت و سبب اصلی و بنیادی فروگذاشت نصرالله خان را از طرف روشنفکران) و توجه آنها بطرف امان الله خان در - به اصطلاح اوشان - دلبستگی نصرالله خان به نظام قرون وسطائی و سلطنت مطلق العنان میداند. تحریك مشروطیت ثانی که معتقد و متکی بر مبنای ناسیونالیستی بود تغییر و دیگرگونی نظام سیاسی و اجتماعی کشور را بر اساس و بنای دیمکراسی غربی خواهان بود که به این اساس یك تحریك و جنبش سیکولریستی پنداشته میشد.

سیکولریستها که با اثر و حاکمیت مطلق مذهب و دین در نظام سیاسی و دولتی کشور ها مخالف بوده و معتقد بر جدائی دین از امور دولتی و اجتماعی میباشند، به هر نظام و اداره، دولتی و غیر دولتی که در آن اثر و حاکمیت دین و دین داران (طبقات مذهبی و روحانی) و معتقدین اوشان به شکلی از اشکال گرچه غیر فعال و غیر عملی هم باشد محسوس گردد، نظر موافق نداشته و نسبت آن نظام و اداره، را به نظام قرون وسطائی میدهند و از آن نفرت مینمایند.

نصرالله خان چون معتقد به حاکمیت دین به حیثیت یك اصل در نظام دولتی و اجتماعی کشور بود و در اداره، دولتی و سیاسی کشور به رول و حیثیت طبقات مذهبی و روحانی قائل بود و شخصاً هم یك انسان پای بند به امور دینی و مذهبی پنداشته میشد لذا به مذاق ایدیالوژیکی روشنفکران! مشروطه خواهان ثانی موافق نبود و توقع که در این زمینه از امان الله جوان، کم تجربه و عقده مند، مشروطه خواهان برده میتوانستند تصور آن هم از نصرالله خان برده نمیشد.

دسته، ارگ شاهی که دست به کودتا زدند:

اشخاص و رجال دسته، ارگ شاهی را که شامل توطئه، کودتای داخل دربار بودند که بقتل امیر زمینه زمامداری امان الله خان را و در حقیقت زمینه، تطبیق اهداف به خصوص فکری، سیاسی و شخصی خود را آماده ساختند در کتاب، (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان) چنین معرفی داشته اند:

(در متن ارگ شاهی دسته، مخالف در صدد قتل او (امیر حبیب الله) شدند که محور اصلی آن خانم متکبر و خود خواه امیر علیا حضرت ملکه سرور سلطان دختر شاغاسی شیردل خان مادر شهزاده امان الله خان بود، سپه سالار نادر خان را نیز با یك عده، غلام بچه های دربار مانند محمد ولی خان دروازی، شجاع الدوله خان غوربندی و غیره با خود در آن دسیسه هم پیمان ساختند).حبیبی در هم پیمانان آن دسیسه خاندان لوی نائب (بارکزی) و خاندان غلام حیدر خان چرخی رانیز یاد نموده است. در کتاب متذکره جریان عملی کردن دسیسه، قتل امیرحبیب الله چنین توضیح داده شده است: (همان بود که بالاخره هنگامیکه امیر برای شکار ماهی به کله گوش دره، النگار لغمان رفته و شب در خرگاه شاهی استراحت کرده بود، ساعت ۳ بعد از نیم شب پنجشنبه ۱۸ جماد الاول ۱۳۳۷ق مطابق ۲۱ فروری ۱۹۱۹م شجاع الدوله خان فراشباشی حضور آهسته به خرگاه، داخل شده با کمال آرامی تفنگچه را به شقیقه، طرف چپ او خالی کرده بسرعت از خیمه خارج شد، اما کرنیل نوکری وال شاه علی رضا خان که شخص قوی و تنومند بود او را محکم گرفت لکن در همین اثناء سپه سالار محمدنادرخان که پوستین غزنی چی ابریشمین دوزی دراز سرتاقدم بر شانه داشت رسیده قفاق محکم بروی شاه علی رضا زده قاتل را رها کرد و گفت آرام باشید که اعلیحضرت خواب است. در حالیکه او را به خواب ابدی فرستاده بودند)

سردار عبدالوهاب جان برادر امان الله خان میگوید که سردار شاه ولی خان هم شامل افراد این دسته بود که بعداً مادر امان الله خان دختر خود را که خواهر سکه، امان الله خان بود به عقد نکاح شاه ولی در آورد.

بعد از قتل امیر، نائب السلطنه نصرالله خان در جلال آباد اعلان پادشاهی کرد و امان الله خان در کابل اعلان پادشاهی نمود.

به گفته، غبار: (نصرالله خان مایل به خون ریزی نبود، گرچه طرفداران او نقشه، جنگ [illegible] نموده بودند سردار نصرالله خان نپذیرفت و گفت اگر من برای گرفتن تاج و تخت بجنبم تمام سرحدات شرقی کشور در زیر پرچم من جمع خواهند شد ولی ریختن خون در افغانستان بنفع اسلام نیست للنا من از پادشاهی که بر خون بناء گردد گذشتم. آنگاه،ویه منشی خود مرزا محمدعمر امر کرد که بیعت نامه، او را به عنوان امیرامان الله خان بنویسد).

بیعت نامه را به کابل فرستاد و به تعقیب آن خود وارد کابل شد تا در کنار پادشاه جدید قرار گرفته مصدر خدمت برای دین و وطن گردد اما متأسفانه بعد از ورود به داخل ارگ توسط زمامدار جدید گرفتار و بدون هیچ نوع جرم و گناهی راهی زندان ارگ گردید.

چرا وارد زندان گردید؟ غبار علت زندانی شدن آنرا چنین بیان میدارد: (او در افغانستان و سرحدات آزاد کشور نام و اعتبار داشت، در پایتخت یك عده، مامورین و روحانیون و متنفذین بزرگ طرفدار او بودند. امان الله خان او را رقیب قوی خود تلقی میکرد). مسئله، رقابت وقتی منتفی گدیده بود که نصرالله خان در حالیکه اعلان پادشاهی داشتم بود و تعداد زیادی از کارگنان عالی رتبه ملکی و عسکری با آن بیعت کرده بودند و از حمایه، وسیع اقشار متنفذ کشور برخور دار بود با آنهم بنفع امان الله استعفی داد و دیگر اصلاً مسئله، رقابت شخصی و چوکی در میان باقی و متصور نبود.

غبار میکوشد علت و سبب دیگر را در میان آورده حبس آنرا توجیه و امنیتی تلقی دارد:

(در عمق این قضایا علت اصلی دیگر نهفته بود و آن اینکه در دولت سابق افغانستان نائب السلطنه مرکز افکار ضد انگلیس بود، در فعالیتهایکه در سرحدات آزاد علیه برتانیه بعمل می آمد او مداخله داشت نایب السلطنه جنگ با انگلیس و استقلال افغانستان را میخواست، لهذا دولت انگلیس دشمن این شخص بود.... پس حیات این شخص از نظر سیاست داخلی و خارجی تحت خطر جدی قرار داشت)، به این شکل توجیه غبار ممکن کسی با او موافق نباشد و شده هم نمیتواند. نائب سلطنه محبوس ماند و فرد متهم دیگر عبدالاحد خان تبعید شد و شاه علی رضا، افسر بیگناه که قاتل و شخص رها کننده، قاتل را از دست او (نادر خان) میشناخت به گفت غبار از نظر سیاست! محکوم به اعدام شد. و این اولین ثمره، رژیم دیکرات مشروطیت ثانی و پادشاه ترقی و عدالت پسند آن بود: نصرالله خان در جریان حبس خویش نامه، به این مطلب عنوانی

ص۳

د اسلامي دولت بين المللي اړيکي:

عيسائيت او بين المللي اړيکي

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

په منځنیو پیړیو کی کله چی اروپا یو مرکزي دولت نه درلود او په ورو ورو فیډرالی هیوادونو باندی ویشلی شوی وه کورنی او بهرنی خپلواکی یی د تل د پاره د لویو او زورورو هیوادونو له خوا تر تهدید لاندی وه، په هر ځای کی د ځنګل د قانون واکمنی وه، عیسایی یا مسیحی دین رامینځ ته شو، دغه واړه هیوادونه یی سره نژدی کړل او د دوی ترمینځ یی یو ډول بین المللی اړیکی او قانونه رامینځ ته کړل. په دغو وختونوکی محرف مسیحیت په ډیر زور سره په اروپا کی خپور شو او دغه واړه هیوادونه د کاتولیکانو د پاپ تر روحی او معنوی اغیزی لاندی راغلل او په دی توګه عیسائیت ورو ورو په دولتی چارو باندی مسلط شو.

په ابتدأ کی د تحریف شوی عیسائی دین د پیروانو هڅه داوه چی خانونه «میشرین سوله خوښوونکی» خلکوته ور وپیژنی او تبلیغ به یی کاوه چی د دوی د (تحریف شوی) انجیل متن په پنځم باب کی ۳۹ - ٤١ آیتونه وایی: «تاسی اوریدلی دی چی ویل شوی دی : سترګه په سترګه، غاښ په غاښ، خوزه تاسی ته وایم: له شریر سره مقاومت مه کویئ بلکی څوك چی تاسی د مخ په ښی خوا په چاپیړه ووهی، هغه بله خوا هم ورته ونیسئ، او که څوك دعوي درباندی وکړی چی چپنه درنه واخلی، ته خپل څادر هم ورسره ورکړه ...... د عیسایانو یا مسیحیانو دغه شعار تر نفوذ او فشار لاندی ؤ، په دوی باندی د یهودانو له خوا ظلمونه کیدل، د دوی دین په دولتی سطحه په رسمیت نه ؤ پیژندل شوی خو کله چی د دوی دین د روم د امپراطوری له خوا په رسمیت و پیژندل شو او د یهودانو له زور او استبداد څخه یی آزادی تر لاسه کړه واك یی په لاس کی واخیست بیایی د سولی شعار له بشریت سره د ظلم او دښمنی په شعار باندی بدل کړ چی د انجیل متن په لسم باب ۳٤ آیت کی د حضرت مسیح «ع» وینا نقل کوی او لیکی: «فکر مه کویئ چی زه ددی دپاره راغلی یم چی په ځمکه کی امن او سوله راوړم، د سولی د پاره نه یم راغلی، بلکی د توری دپاره.» او د انجیل لوقا په دولسم باب کی ٤۹-٥۱ آیتونه لیکی: « زه ددی دپاره راغلی یم چی په ځمکه کی اور بل کړم ... آیا تاسی فکر کویئ چی زه په ځمکه کی د امن او سولی دپاره راغلی یم، نه، بلکی تاسی ته وایم د تفریق او جلا والی دپاره راغلی یم چی سری او مور یی، ښځه او خواښی یی سره جلا کړم.»

زین العابدین قربانی په خپل کتاب «اسلام و حقوق بشر» کی لیکی: «له دولسمی پیړی،نه وروسته د اروپا په ډیرو هیوادونو لکه: اسپانیا، پرتګال، لهستان، فرانسه، انګلستان، آلمان او هالند کی په زرهاؤو یهودیان، د بشر دوستو عیسایانو په لاسونو له وطن څخه وشړل شول او ډیر زیات یی، په دریاب کی غرق کړل او یایی په اورکی وسوزول.»

قربانی صاحب د «ویل دورانت» د تاریخ د اتلسم جلد ۳۶۰ مخ په حواله لیکی: « له کال ۱٤۸۰ نه تر کال ۱٤۸۸ پوری چی اته کاله کیږی (په اسپانیا کی) د عقایدو د تفتیش د اداری له خوا ۸۸۰۰ تنه سوځول شوی او ۹٦٤۹٤ تنه په سختو سزاګانو باندی محکوم شوی ؤو، او له کال ۱٤۸۰ نه تر کال ۱۸۰۸ پوری، له ۳۱۹۱۲ څخه زیات خلك سوځول شوی، او د انکل له مخی ۲۹۱٤٥۰ تنو څخه زیات کسان په سختو سزا ګانو محکوم شوی دی».

له مسلمانانو سره د صلیبي جګړو په هکله د عیسایی عسکرو ظلم او وحشت ته په تنقید سره «آلبرماله» مسیحی لیکوال په خپل کتاب « د منځنیو پیړیو تاریخ» په دوهم جلد ۲۵۷ مخ کی لیکی: «کودفرو ادوبویون» د صلیبیانو قوماندان، پاچ ته په یوه ربوټ کی داسی لیکی: « که غواړی چی د هغو د ښمنانو (مسلمانانو) په هکله چی په بیت المقدس کی زموږ لاس ته راغلی دی، څه عمل شوی، دومره باید پوه شی چی: زموږ کسانو د سلیمان په دهلیز او معبد کی د مسلمانانو وینی په دومره اندازه توی کړی چی د مرکب-زنګنو ته رسیږی! ... وروسته له دی چی په وینو توبولو ماړه شول، په ګوروونو باندی ور وختل څه چی یی په لاس ورغلل ضبط یی کړل.»

«ویل دورانت» په خپل د «تمدن تاریخ» نومی کتاب کی لیکی: «... په کوڅو کی د وړل شویو کسانو د سرونو او لاسونو کوړی او کوټی پرتی لیدل کیدلی. خلکو به په مرکب باندی لاره ایستله. په وژل شوو جسدونو کی به یی په اسونو باندی ښځی په خنجرونو وژلی د شیدو ماشومان به یی له پښو نه ونیول په زور به یی د میندو له تیو څخه جلا کول او په دیوال به یی ویشتل، او یا به یی له ستنو سره په وهلو د دوی مغزونه

وعده دی ولی هیره کړه؟

ابراحسان

که څه هم زه په دی باور لرم چې ته به پخپله وعده ټینگ ولاړ یې او خپله مسلمانی او افغانیت به دا اجازه درنه کړی چې کړی وعده ماته کړی او هغه لار ونیسی چې زموږ د سپیڅلی جهاد عالی اهداف تر خاورو لاندی کړی ځکه تاته دوعدی دتر سره کولو په اړه اسلامی احکام او افغانی پرنسیپونه ډیر ښه معلوم دی او تر بل هر چا زیات په دی باب معلوما لری. ـ

خو اوس زه په دی نه پوهیږم چې له تا څخه دوخت نا دودو او کړاوجنو حالاتو خپله وعده هیره کړه او که دا درته ټوکی ښکاری چې وعده وکړه او عمل پرې‌نه کړه او په دی توگه خپلی شپې سبا کوه، او دی ته خودی پام نه دی چې دانسان جوهر په وعده پاندی په وفاکولو کی نغښتی دی او چې کوم انسان کړی وعدی ماتوی نو په ټولنه کی خپل باور او اعتبار له لاسه ورکوی او بیا یې هیڅوک په خبره باور نه کوی.

تاچې نن هغې وعدې ته شا کړه اړ بله لاره دی ونیوه، نو څه فکر کوی چې نتیجه به یې څنگه وی ایا تایې وعواقبو په باب فکر کړی دی، ایا تایې مثبت او منفی اړخونه سنجولی دی او ایا تا د ملت داد ځانو سروی او ارزیابی کړی ده؟ نو ترټولو د مخه دا ضروری ده چې په دی اړه یو ځل ژور فکر وکړی اوس زموږ ملت هغه په خوب ویده ملت نه دی چې هر څوك د خپلی رایی مطابق وریباندی پرهر څه تحمیل کړی، اوس زموږ مسلمان ملت له ډیرو ازموینو څخه په بری سره راوتلی ملت دی اوس زموږ مسلمان ملت د هر چا کړه وړه په داسی تله تلی چې کموالی او زیاتوالی یکی زیات نه شی راتلای ځکه خو زه دیره خواخوږی په توگه تاته خپله وعده درپه یادوم اوری ته دی پام را گرځول غوارم چې په دی اړه له سره فکر وکړه او د خوشحال (ختټك) دا بیت له ځان سره زمزمه کړه چې ویلی یې دی:

چې وعده دی له چا وکړه نور یې مه کړه
تل په قول وعده ټینگ وی ښه میړونه

مونږه طالبان یو

لس کلن طالب العلم محمد ادریس «غیرت»
د تشویق لپاره خپور شو

الله زموږه رب دی   اسلام زموږ مذهب دی
موږه ددی لاری پتنگان یو   موږ قهرمانان یو
موږه افغانان یو
موږه طالبان یو

دا وطن میوی لری   ډکی آلوچی لری
موږ دعلم پتنگان یو   د دی لاری شهبازان یو
موږه افغانان یو
موږه طالبان یو

موږه صداقت غواړو   موږه امانیت غواړو
موږ دحق په لور روان یو   موږ ټول محافظان یو
موږه افغانان یو
موږه طالبان یو

د قاتل سرغوڅولی شو   د دښمن تتر ویشتلی شو
موږه باتوران یو   موږه خو غازیان یو
موږه افغانان یو
موږه طالبان یو

موږه خلقیان نه منو   موږ پرچمیان نه منو
موږ مسلمانان یو   موږ ایمانداران یو
موږه افغانان یو
موږه طالبان یو

د ادب ملغلری

د زولنو شرنگهار

مطمئن

د حق په مینه شکنجی می ټول زندان ژړوی
وړه شرنگادز ولنومی سنگدلان ژړوی
لکه پتنگ د دین په شمعه می وزر وسوځل
سوی و زر په اور د مینی عاشقان ژړوی
نن می په خوب کی د مجنون کوڅی لیدلی اشنا
د لیلیٰ هجر په هر ځای کی لیونیان ژړوی
د سکندر او شاجهان پاچاهی نه غواړمه
زما د مینی تخت تختونه د سلیمان ژړوی
اسمانه پریږده لیونی چه په میرو وگرځی
ما همیشه شکیدلی گروی په گریوان ژړوی
زما د مینی مسافر په کومه خوا وکوچید
پر هر سینه می په انگار کی د هجران ژړوی
ای دفلك ځښتنه څه وخت به می وخوځوی
ما ځوانی مرگی جنازی د قبرستان ژړوی
دواړه لاسونه می گریوان د ساحل نکړل تکیه
زما دهیلو غرقیدل واړه جهان ژړوی
که څه هم ژاړی منتظر د انتظار په شیبو
کله نا کله (مطمئن) هم اطمینان ژړوی

دکشمیر دغرونو بازه!

ملا اسدالله (حنیفی)

د کشمیر دغرو نو بازه! چې دښمن ته سر ټیټ نه کړی
ای دننگ اوپت اوازه! چې دښمن ته سرټیټ نه کړی
سرولمبوته ورلاهوشه سنگرونه لاتاوده کړه
کشمیری نهضت پیشتازه! چې دښمن ته سرټیټ نه کړی
ازادی د چمن گل شه! دکشمیر په دنگو غرو کښی
دخپلواك وطن بلبل شه! دکشمیر په دنگو غرو کښی
د دسمن په سر راپریوزه اسمانی تندر په رنگ کښی
د جهاد دکاروان مل شه! د کشمیر په دنگو غرو کښی
افغانی جهادنه اخله الهامونه وړاندی تله کړه
په تودو وینو تودیږی سنگرونه وړاندی تله کړه
د دبلی د شیاطینو ورته ماتی ککری کړه
کړه د فتح تر پړاوه جهادونه وړاندی تله کړه
د ایمان په زور سمبال یې چې همت دی کاسته نشی
د دسمن تو ری ته ډال یې چې همت دی کاسته نشی
تر روستی لمحی د ژونده له دښمن سره جنگیږه
ته عسکر د ذوالجلال یې چې همت دی کاسته نشی
ته د خپل حق طلبگاریې په جرئت دی برکت شه
د اسلام د باغ مالیاریې په جرئت دی برکت شه
خپل هدف ته به رسیږی که د خدای د پاره نیغ تلی
(حنیفی) د زړه قراریې په جرئت دی برکت شه

گر کسی وصف او ز من پرسد
بیدل از بی نشان چه گوید باز
عاشقان کشته گان معشوقند
برنیاید زکشتگان آواز
سعدی (رح)

بیا راپورته شوم

استاد عبدالباری جهرت

ولاړم، ولاړم ،ولاړم دملکو شومه
څومره زه لیوال دپروازو شومه
زه یو مسلمان ومه افغان و مه
ماتیری اینبودی مرکی می کړي
ځله نن رټلی له جرگو شومه
زه د دنیا و یاړ دایشیا تاج ومه
اوس یې دملنډو دکیسو شومه
څومره شوم بې قدره ژوندي ورك شومه
ما خو اسلامیت آواز ادي غوښته
نه ومه خبر چې د ونډو شومه
خپس شومه په زمکه په رنو سترگو
کله هم خوراك دسروگو لوشومه
زه وم دمیرویس او احمد شا لمسی
ولی د گورکی (١) دخندیدو شومه
ماد سومنات بتان مات کړی وو
ځکه د هندو د قهریدو شومه
زه په دی جهان کښی ځائیدای نشوی
ځنگه له نړی دورکیدو شومه
زه په تنگ راپورته او په تنگ به مرم
ځکه د خوشحال ختك په پلو شومه
زه یمه عقاب وایمه کوم عقاب
ځکه بیا راپورته په شملو شومه

(١) روسی لیکوال

عیسائیت او...

ماحول، چې په نتیجه کی یی د ... مسلمانان چې په ښارکی پاتی ژو مړه کړل؛

یهودیان چې ژوندی وتلی ژو په کلیسا کی یی راغونډ کړل او ژوندی یی په اور وسوځل؛

«جان دیون پورټ» د خپل کتاب «عذر تقصیر به پیشگاه محمد «ص» و قرآن» په ١٣٨ مخ کی لیکی: « ... یو یرغل گرونکی له کنټرول نورو سره په ښار باندی رغلل .... نه یې په واړه باندي رحم کاوه . نه په زاړه، نه په ښځه او نه په نر، په مهغه تورو چې د میندو پڅوته یه یې راندی سوری کول، ماشومان یې هم رباندی وژل؛ د بیت المقدس کوڅی د مقتولینو په جسدونو باندی پټی وي، له هر لور څخه د نا اومیدی چیغی، ژړاگانی او ریادونه راپورته کیدل:» دغه عیسایی لیکوال مخکی د مسلمانانو د فتح په باب لیکی: «کله چې صلاح الدین ایوبی د سوریې سلطان دوهم ځلی دغه ښار ونیو، وروسته له دی چې ښار تسلیم کړ ی، یو کس هم نه دی وژل شوی، او له عیسایی بندیانو سره یی ډیر زیات رحم او مهربانی کړی ده.»

«دکتور کوستاولیبون» د تاریخ تمدن اسلام و عرب په ٤١٠ مخ کی لیکی: « ... صلیبیانو په دغه عامه وژنه باندی اکتفا و نه کړه، غونډه یی جوړه کړه او فیصله یی وکړه چې د بیت المقدس ټول اوسیدونکی مسلمانان او یهودیان او د نورو فرقو عیسایان په عمومی توگه باید ووژل شی، او دغه عامه وژنه اته ورځی روانه وه په پای کی هیڅ ژوندی سری انسان هلته پاتی نه شو.» کوستاولیبون مخکی د مسلمانانو انسانی سلوك او رفتار ته اشاره کوي لیکی: «د صلیبیانو سلوك او رویه په بشپړه توگه له هغی رویې سره مخالفه وه چې حضرت عمر «رض» د مسلمانانو دوهم خلیفه څو پیړی مخکی له عیسایانو او دهغه ځای د اوسیدنکیو سره کړی وه.»

په اسپانیا کی مسلمانانو له ٩٢ هجری نه تر ٨٩٧ هجری کال پوری حکومت کړی او هلته یې له ټولو ادیانو سره گډ د سولی په فضا کی ژوند کړی چې په نتیجه کی یې داسی تمدن رامینځ ته کړچې د اروپا اوسنی تمدن دمسلمانانو دهغه بې مثاله تمدن نتیجه ده.

خو کله چې د اسپانیا یا اندلس دغه متمدن هیواد د عیسایانو په لاس کی ولویده، له مسلمانانو سره یې د مسلمانانو د نیکی او دوستانه رویی برعکس هغه څه وکړل چې تاریخ یې په یادولو باندی شرمیږی.

کوستاولیبون د تمدن اسلام و عرب په ٣٣٨ مخ کی لیکی: «کله چې عیسایانو په اسپانیا کی د مسلمانانو وروستنی پلازمینه «غرناطه» لاندی کړه، ټولی هغه دینی آسانتیاوی او همدردی وی چې عربانو د څو پیړیو په اوږدوکی دوی ته ورکړي وې، عیسایانو سمدستی هغه ناپیدلی ونیولی او د ډیرو معاهدو او تړونونو سره سره یې له مسلمانانو سره په ډیره بې رحمی او قساوت سلوك او رویه وکړه.

عیسایانو د دوی په هکله دوه نظره درلودل: لومړی د کشیشانو نظر ؤ چې ویل یې، ټول مسلمانان بلا استثنا ـ نر او ښځی، زاړه او ځوانان او حتی ماشومان باید ووژل شی؛

دوهم نظر د عامو خلکو ؤ چې له حکومت څخه یې وغوښتل ټول مسلمانان دی له هیواد نه وایستل شی.

فلیپ دوم: د هغه وخت پاچا، ددی دپاره چې په دواړو نظرونو یې عمل کړی وی په کال ١٦١٥م کی یې حکم وکړ چې مسلمانان له هیواد څخه وباسی: خو دغه ارمان په داسی شکل عملی شو، مخکی له دی چې مسلمانان له اسپانیا څخه ووزی، دری په څلور برخی مسلمانان د هغه ځای د عیسایانو له خوا وژل شوی ؤو.

دغه عیسایی لیکوال مخکی لیکی: « د طلیطلی اسقف اعظم چې د مقدسی محکمی رئیس ؤ، نظر ورکړ چې ټول مسلمانان، ښځی او ماشومان په توره باندی ووژنی! یو بل راهب «بلدا» یو گام له اسقف اعظم نه مخکی شو او حکم یې وکړ چې مسلمان باید ووژل شی!» عیسایی تاریخ لیکونکی اټکل کوی چې په اسپانیا کی د عیسایانو د واکمنۍ نه وروسته دری میلیونه مسلمانان وژل شوی او یا اخراج شوی دی!

«کرینس» د طلیطلی لوی اسقف د «غرناطی» لویه کتابخانه چې اتیازره جلده کتابونه یې درلودل اوریې ورکړ او په یو ځای یې وسوځله!

«جان دیون پورت» د خپل کتاب په ١٣٣ مخ کی لیکی: « ... څوك دی چې په اسپانیا کی به د مسلمانانو د امپراطوری په نړیدو ماتم نه کوی؟! هغه ملت چې د اته سوه کاله په اوږدوکی، حتی د دوی مخالفو تاریخ لیکونکیو تکړی شول یوه ووړ کی بیلگه د ظلم او زور په اسپانیا باندی پیدا کړي او ویې لیکی. او څوك دی چې د عیسائیت د دغوڅگندونو د اعمالو څخه به شرمیږی او خجل نه وی؟!»

«اناتول فرانس» وایی په اسپانیا باندی د اروپا د شمال د وحشیانو یرغل او د اسلامی حکومت او علمی مؤسساتو له مینځه وړلو، لر تر لږه پنځه سوه کاله اروپا له علمی پرمختك نه وروسته پاتی کړه.»

له پورتنی څیړنی او تحقیق نه داسی نتیجه اخلو چې عیسائیت نه شی کولای نړیوال نظم رامینځ ته کړی او د ملتونو تر مینځ ایکی ورورولی، دوستی، محبت، عدالت او برابری په اصولو باندی ودروی. او بشریت له امن، سولی او نیکمرغی سره شاړه په غاړه کړی.

خدمات دینی و اجتماعی علماء...

امان الله نوشت.

غبار: (ارجمند کامگار امیرامان الله خان! به شما معلوم است که من در وقت امیر صاحب شهید شما را حمایت مینمودم و حالا هم با شما مخالفت ندارم، اکنون از شما سه چیز میخواهم: اول مرا از حبس رها کرده اجازه بدهید که بقیه عمر خود را در مکه معظمه و مدینه، منوره بگذرانم، اگر قبول نشود من را به خانه بفرستید و من از خانه خود خارج نمیشوم، سوم اگر اینهم قبول نشود من حاضرم که برای شما خدمت نمایم. نصرالله).

امان الله خان خواسته های عم خود را نپذیرفت و برایش نوشت: شما چند وقتی در اینجا (محبس) خواهید بود. به گفته، سردار عبدالوهاب جان و تعداد کثیری از آگاهان اوضاع در زمان امانی در زندان به تعذیب و تکلیفهای جسمی و روحی مواجه بود. به گفته، غبار: (نایب السلطنه بتدریج اما به سرعت توان خود را از دست داد و در شب جمعه ٢رمضان ١٣٣٨ مساوی ٣١ ثور ١٢٩٩ چشم از جهان پوشید و به این صورت یك مرکز عمده، ضد انگلیس در دربار افغانستان معدوم گردید). این بود معامله، رژیم ناسیونالیست و دیمکراتیك ضد انگلیس! امانی با بزرگترین عنصر ضد انگلیس د.

منطقه و کشور به این شکل تحریك مشروطیت اول که از مسجد و مدرسه آغاز به کار کرد و خواهان تحول و دیگرگونی در وضع سیاسی و اجتماعی کشور موافق اصول و اهداف اسلامی و ملی بود. در مرحله، دوم از مبارزه، که مشروطیت ثانی نام گرفت با روی کار شدن رهبریت دارای افکار ناسیونالیستی سکولریستی همچون طرزی تغییر و انحراف اساسی در اهداف تحریك اول رونما، گردیده به جای گسترش دادن هر چه بیشتر دامنه، مبارزه در میان توده های مردم و ایجاد رهبری مردمی و انقلابی، به نهاد و مرکزیت ملوث و غیر مردمی و ملی (دربار) کشانیده شده و وسیله، بر آورده شدن اهداف و عقده های شخصی و خانوادگی تعداد از شهزاده ها، سردارها و غلام بچه ها گردید و در نتیجه یك جوان کم تجربه و فرنگی مشرب تبار امیر عبدالرحمن خان را به زعامت کشور بر گزیدند و آنرا علیه دین و ملتش استعمال نمودند و آنچه از نتائیج سؤ و بدی آن به جای ماند در آینده ها سبب و علت فاجعه های دردناك دینی و ملی برای ملت ماشد که تا این دم از اثرات سؤ آن ملت ما خلاصی ندارند.

* * *

ربانی او گلبدین...

روحانی پلرونه (علماء کرام او ځمونږ استادان) ځمونږ د پوښتنی په خاطر راغلی او د خپلو بچو «طالبانو» حالات له نژدی نه گوری خو انشاء الله دابه ووته ثابته شوی وی چې طالبانو هغه کړنلاره غوره کړی کوم چې دوی ورته په درسونوکی حقه لاره ښودلی وه، ده وویل: طالبانو تکل کړی چه پدی به اکتفا نه کوی چې د ملك په زیاته برخه کی نی امنیت تأمین او شریعت یی نافذ کړی دی بلکه د ټول افغانستان او عالم اسلام فکر ورسره دی او انشاء الله چه دغه ارزو به مو پوره شی ځکه چه په نیت او اراده کی صفایو.

وروسته دهرات د علمای کرامو د شورا او محکمی رئیس محترم مولوی خدا داد وویل: علماء کرامو د طالبانو په څوارلس کلن مقدس جهاد کي مهم رول لوبولی او داسی خو ئی په اثبات ورسوله چه علماء کرام او طالبان کولای شی چه د شهیدانو، کونډو او یتیمانو ارمانونه پوره، امنیت تأمین او رښتینی اسلامی نظام راولی. زه پدی ایمان لرم چې همدا علماء کرام به ددی لپاره چه د ملت غوښتنو ته نی مثبت ځواب روایی د همدی ټولنی رهبران او مشران همدوی دی، ده وویل: چه دا د همدی علماء کرامو واقعی لاربښوونه او روزنه وه چې د ملك زیاته برخه له شر او فتنی څخه وژغورل شوه او انشاء الله چه د دی لارښوونو او نیکو مشورو په برکت به باقی پاتی ملك هم له دی فیوضاتونه برخمن شی. وروسته د صوبه سرحد شیخ الحدیث مولوی عبدالحنان وویل: دا چه دومره پاکی وینی پدی ملك کښی د امن او شریعت د راوستلو لپاره و بهیدلی هغه په خدای بی ځایه نکړی نن هغه دی د ملك په زیاته برخه کی امن تأمین او شریعت [illegible] او دا د طالبانو ته خدای پوره کړه څوك چه د طالبانو په وړاندی خنډ کیږي په حقیقت کی دحق په مقابل کی د باطل حیثیت لری او پدی کې شك نشته چه د باطل لاره د شیطان لاره ده او د شیطان لاره هغه ده چه شرارت او فتنه پیدا کول دی چه ددی په مقابل کی دریدل په هر مسلمان فرض دی، وروسته د چارسدی د اسلامیه مدرسی شیخ الحدیث غلام محمد صادق صاحب وویل: د طالبانو د اسلامی تحریك لاره د حق لاره ده او دا هغه لاره ده چه د ملك زیاته برخه ئی له شر او فتنی څخه ژغورلی او انشاء الله چه باقی پاتی افغانستان به هم خدای ژرلدی مشکلاتو نه خلاص کړی خو زموږ او د نړی د مسلمانانو او په تیره د گاونډیو ملکونو دا فریضه ده چې د طالبانو د اسلامی تحریك ملاتړ وکړی ځکه چه دغه تحریك د افغانانو په خیر دی که نن ددی تحریك ملاتړ ونکړی پدی کی شك نشته چه دا تحریك به خدای له دی نه پرته هم کامیاب کړی بیا به دوی په کومو سترگو ورته گوری، محترم مولوی صاحب وویل: چه اسلام خو خو خو واره له افغانستان نه نورو ملکونوته خپور شوی د هندوستان بتان ددی ځای د شازلمو د مټو په زور مات شوی انشاء الله هغه ورځ بیا راتلونکی ده چه هغه افتخارات ددی زمرو په برخه شی او لدی ځای نه نورو ملکونوته اسلام خپور شی، او زه یقین لرم چې دا ویاړ به خدای(ج) بیا د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك په برخه کړی. وروسته د صوبه سرحد د امداد العلوم شیخ الحدیث مولوی محمد حسن جان مدنی خبری وکړی وئی ویل: چې ربانی او گلبدین د افغانستان د اقتدار څه میراث خوړه ندی چه بیازی د دوی په برخه رسیدلی، ملك خو د دوی په دی جاه طلبی کی تباه او برباد شو او ډیر خلك په کی مړه او تباه شول په کاردی چه اقتدار هغه چاته پریږدی چه چا واقعاً امن او شریعت راوستی او ملت ته نی امتحان ورکړی دی، او دا کوم حالات چې موږ د طالبانو په لاس کی ځایونوکی گورو ډیر دخوشحالی او اطمینان وړ حالات دی دا حالات دا ایجابوی چه باید قدرت همدوی ته وسپارل شی.

وروسته د ایران د اهل السنت دعلماء کرامو یوتن مولوی محی الدین وویل: چه افغانستان یو اسلامی ملك او د اسلام پنامه جوړ دی دلته د اسلام نه پرته بل نظام نشی چلیدلی او اسلام هغه څوك راوستلی شی چه هغه په اسلام پوه او آگاه وی چه هغه علماء او طالبان دی.

محترم مولوی صاحب وویل: تر طالبانو وړاندی نورو حاکمانو ددی توان نه درلودلی او نه ئی توجه کړی چې امن تأمین او شریعت نافذ کړی بیاری طالبانو عمل په میدان کی وښودله چه امن او شریعت یی د افغانستان په زیاته برخه کی راوستی او هم ددی لپاره چه ټول سره ورونه یو پدی ویاړم چه په افغانستان ٤مخ

په افغانستان کی د سولی...

دا ومنله چې په حجاب کی به ورسره ملاقات کوی.

لنډه دا چې د روس له شکست څخه وروسته دغو جگړه مارو قوتونو ملت ډیر مایوس کړ او هغه وژنی، چور چپاول او هغه یو بل وژل هم داسی جریان لری.

اوس چې دطالبانو د کنترول لاندی علاقو کښی اسلامی شریعت نافذ دی نو جهادی مشرانو ته په کار وو چې دوی سره یې مدد کړی وای خو له بده مرغه دوی د خپل اقتدار لپاره له دوی سره جگړی پیل کړی.

من از بیگانگان هر گز نه نالم
که بامن هرچی کرد آن آشنا کرد

خو افسوس خبره داده چې ربانی د طالبانو مقدس تحریك د ځپلو لپاره د روس او هندوستان غونډی ملکونو څخه کمك او ملاتړ تر لاسه کوی او دغه هیوادونه د ده پوره پوره سر پرستی کوی یا داسی حالاتو کښی چې د ملگرو ملتونو شیطانی هلی ځلی د نا کامی سره مخامخ دی نود پاکستان بعضی دینی رهبرانو د جوړ جاړی کوښښونه شروع کړی دی لاکن داچی چیستان یوه معماده او زموږ په پوهه کښی دا خبره نه راځی چې دوی ټول زور په دی اچولی دی چې گلبدین حکمتیار هم له ربانی سره یو ځای او په حکومتی چارو کښی شریك کړی، خو حال داچی اوس له ده سره په دی وخت کښی سیاسی او نظامی قوت نشته او یوازی د تبلیغاتو په زور هغه د افغانستان د جهاد د مشر په توگه معرفی کیږی او کیږو. دغو رهبرانو د روغی جوړی په کار کی له شروع کولو سره د طالبانو اسلامی تحریك له نظر څخه و غورځاوه او نه یی دوی سره کومه رابطه وکړه خو حال دا چې اصل قوت طالبان دی او هغوی په نیم څخه زیات افغانستان کنترول لری. موږ حیران یو چې دا ښاغلی دطالبانو مخالف قوتونه له سره را ټولوی او ربانی گلبدین او سیاف د طالبانو خلاف یو ځای کول غواړی لکه څنگه چې غرب او نور یې دینه قوتونه د طالبانو مخالفت کوی او دوی ته بنیاد پرست او مذهبی بنسټ پالی القاب استعمالوی او گلبدین و غیره چې خپل ځان ته بنیاد پرستان وائی هغوی څنگه د غربی او اروپائی سازشونو ملگرتیا کوی.

په ظاهره، دا ډیره د افسوس وړ خبره ده چې دا سوله راوستونکی په پوهه او نا پوهه د اوروپا، امریکا او د ملگرو ملتونو لاسونه مظبوطوی. او په مقابل کښی په شریعت او اسلام ځان قربانوونکی طالبانو په ضد جنگیږی چې په هغوی کښی د ځینو کښتی ډیری شوی دی او د ځینو په ډوبیدو دی. که دوی رښتیا د امن د قائمیدلو لپاره کار کولی او دوی مخلصین وای نو هغوی به طالبان په اعتماد کښی اخستی وای تر څو چې له افغانستان څخه خانه جنگی ختمه شوی وای.

دلته په دا خبره هم بې ځایه نه وی چې دکراچی یو مشهوره او د تیږه مجله چې هره ورځ د طالبانو د اسلامی تحریك خلاف مراد چاپوی [illegible] چې د طالبانو اسلامی تحریك شروع کیږی او دخپلو ملگرو د [illegible] روا تا روا کاروتو تائیدولو لپاره څه وکړل کله چې دوی کابل کی د دوستم ملیشا سره جگړه کوله او بې گناه خلك یې وژل نو هغه یې عین رضا الهی گڼله. کله چې دوی د احمدشاه مسعود خلاف جنگ پیل کړ نو هغه ته یې جهاد ویل او کله چې دوی د کمونستانو سره د خپلو گټو لپاره ائتلاف وکړ نو هغه ته یې عین حکمت وویل بیابی ربانی سره جنگ هم نیك کار وباله، او کله چې د طالبانو خلاف له ربانی سره یو ځای شو نو هغه ته یی د ملك او قوم ضرورت وویل «برین عقل و دانش باید گریست» انشاالله یو طاقت هم دا نشی کولی چې دغه د الهی لښکر (طالبان) ختم کړی که څه هم هغه د امریکا سازشونه وی او یا چالونه یې وی د روس او هندوستان فوځی او اقتصادی ملاتړ وی او یاد نورو ملکونو ملاتړ وی. د ربانی او حکمتیار ائتلاف او یا د نورو تنظیمونو سازشونه او د سولی په نوم مکروه او ناوړه سازشونه وی او یا د پاکستان ځینو مذهبی ډلو پټ روابط وی. د دغه ټول طاقتونه د طالبانو په خلاف یو ځای کیږی نو دی خبری دلیل دی چې دا ټول قوتونه د حق پر خلاف جمع شوی دی او غواړی چې د طالبانو مقدس تحریك ختم کړی خو موږ دوی ته دا وایو چې په پوکولو سره دا چراغ نه مړ کیږی.

حزب اسلامی په لغمان کی د عالمانو او طالبانو گرفتاری ته لاس اچولی دی

څه ناڅه څلویښت تنه دینی عالمان او طالبان یی نیولی او په تورو کوټوکی یی اچولی دی

د لغمان مسلمانو او دین دوستو خلکو دهغوی ددغه عمل په وړاندی سخت عکس العمل ښودلی دی

دلغمان له ولایت څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی په هغه ولایت کی حزب اسلامی دعامو علماو او طالبانو په نیولو لاس پوری کړی دی.

خبریال زیاتوی د حزب او کابل اداری له ائتلاف څخه وروسته ددغه گوند مسؤلینو د خوش خدمتی په غرض د بی گناه عالمانو او طالبانو گرفتاری ته لاس اچولی او په دی توگه غواړی د مسعود په وړاندی د خپلی پوره وفاداری مظاهره وکړی.

خبریال وایی چی تر اوسه پوری یی څه ناڅه څلویښت تنه عالمان او طالبان نیولی او په تودو کوټوکی یی اچولی دی.

خبرځای زیاتوی چی د حزب اسلامی د کسانو دغه عمل د لغمان پر مسلمانو خلکو بد تأثیر کړی او دهغه ولایت د مسلمانو او دین دوستو خلکو له خوا سخت عکس العمل ښودل شوی دی، د دوی دا عمل یی د دین پر عالمانو پاندی ځرگند تیری بللی او له هغوی څخه یی غوښتنی ده چی له دغه شان ناوړه عملونو څخه لاس واخلی او که نه نو د مسلمانانو له سخت عکس العمل سره به مخامخ شی.

*****

د طالبانو د اسلامی تحریک یو لوړ رتبه هیئت...

وویل شو او امریکانه یې د دوی ورتگ پر نیک فال وباله.

هیئت به په واشنگټن کی له میشتو مهاجرو افغانانو سره له نژدی څخه وگوری، د دوی په غوښتنو او مسائیلو به ځانونه خبر کړی او د افغانستان د مسئلی دحل په اړه به دهغوی نظر ځانته معلوم کړی.

همدارنگه له ده چی هیئت به دگران هیواد د کنډوالو په بیا ودانولو او سمسورتیا کی د هغوی نظر او مرستی جلب کړی او په یو شمیر هغو مسائلو به سره وغږیږی چی د هیواد د بیا ودانی او سمسورتیا لپاره ورته ضرورت دی.

***

د وردګ په دامان ولسوالی کی...

کرلو څخه ډیره کوی د سیمی خلکو هم پخپله خوښه دطالبانو د اسلامی تحریک دا غوښتنه ومنله او فیصله یی وکړه چی پخپلو ځمکو کی به د ناروا شیانو له کرلو څخه ځان ساتی.

د کابل د قروغ په غره کی...

خبریال زیاتوی چی د حزب اسلامی د مشهور قوماندان تورن امان الله د ورور او د میدان ښار د پخوانی والی عزت الله نوری په مشری حزبی ملیشو د طالبانو د لومړیو کرښو سنگرونه تر سخت برید لاندی ونیول او دقروغ د غره په سیمه کی د دواړو خواو تر منځ سختی وغری پیل شوی.

په دی بریالیو عملیاتو کی د ائتلافی ملیشو زیات شمیر کسان ووژل شول او زیات شمیر نور یی زخمیان شول چی پنځلس تنه مړی یی دجنگ په میدان پاتی شول زیات زیات مالی تاوانونه ور ورسیدل او پاتی کسانو د تیښتی لاره ونیوله.

له کومی ورځی نه چی د حزب او کابل اداره ائتلاف منځ ته راغلی دی دا څوروم ځل دی چی د دوی ملیشه یی قرتونه د طالبانو پر خلاف ناکام بریدونه کوی، خو هر ځل له سختی ماتی سره سره د سر او مال درانده تاوانونه ورته رسیدلی دی.

خبریال زیاتوی چی په دی نښتو کی د طالبانو د اسلامی تحریک قهرمانو مجاهدینو وکړای شول چی یوځل بیا ائتلافی ملیشوته غاښ ماتوونکی گوزارونه ورکړی او داسی یی وزغلوی چی د تیښتی لار تری ورکه کړی.

***

په قاهره کی...

کنټرول لاژیات کړی او دی ته تیار نه دي چی دغه سیمی بیرته خوشی کړی.

دغه عربی مشران به په منځنی ختیځ کی دسولی په پروسه هم غور وکړی او د اسرائیلو دنوی حکومت تگ لاره به تر څیړنی لاندی ونیسی. همدارنگه دوی به زیار وباسی چی پول عربی هیوادونه یوه تگ لاره غوره کړی په دی سرغولنه کی دعربی هیوادونو پر مشرانو سر بیره دآزاد فلسطین مشر یاسرعرفات هم گډون کړی دی.

یو تن قاتل اعدام شو

د پکتیا ولایت د احمد خیلو له ولسوالی څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی په هغې ولسوالی کی یو قاتل د شرعی محکمی د حکم له مخی اعدام شو.

خبریال زیاتوی څه موده دمخه محمد کمین د میرزا زوی څلورتنه بی گناه مسلمانان وژلی وو، خو نوموړی قاتل دسیمی د مسلمانو خلکو په مرسته نیول شوی اوعدالت منگولو ته سپارل شوی و.

د طالبانو د اسلامی تحریک شرعی محکمی ته تر زیاتو تحقیقاتو او څیړنی وروسته دا ثابته شوه چی قاتل مجرم دی، پخپله قاتل هم ته یوازی پخپل جرم اعتراف وکړ بلکی بالفعل د قتل په وخت کی دسیمی د مسلمانو خلکو له خوا نیول شوی و، نو د شرعی فیصلی له مخی پر دغه قاتل د اعدام حکم صادر شو، چی په څو تیرو ورځوکی په یوه لویه غونډه کی په داسی حال کی اعدام شو چی دسیمی علماء د اعدام په اړه شرعی احکام خلکوته بیانول.

په یوتن زانی او یوی زانیه باندی شرعی حد جاری شو

ددوو تنو غلو لاسونه د شرعی محکمی د فیصلی له مخی غوڅ کړای شول

د کندهار له ولایت څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی دهغه ولایت د شرعی محکمی د فیصلی له مخی یو تن زانی او یوه زانیه په دورو ووهل شول او شرعی حد پری جاری شو.

خبریال زیاتوی چه دغه دوه تنه په زنا ککړ کسان ښځه او نارینه د طالبانو د اسلامی تحریک د موظفینو له خوا نیول شوی او د تحقیقاتو په جریان کی دواړو پخپل جرم اعتراف وکړ نو د شرعی محکمی د فیصلی له مخی شرعی حد پری جاری او په دورو ووهل شول.

همدارنگه د فراه له ولایت څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چی دهغه ولایت د امنیتی ساتونکو له خوا دوه تنه غله اولاروهونکی نیول شوی او د فیصلی په غرض شرعی محکمی ته سپارل شوی وو.

شرعی محکمی ته د دوی د تحقیقاتو په نتیجه کی دا ثابته شوه چی دواړه دغلا کرلو په وخت لاس په لاس نیول شوی دی نو شرعی حد پری جاری او له دواړو څخه یو یو لاس غوڅ کړای شو.

عربی سرمشریزه د سراب په ځای باید حقیقت ته متوجه شی

دا سرائیلو انتخابات پای ته ورسیدل، کار گر گوند چی له عربانو سره یی په اصطلاح دسولی پروسه روانه کړی وه، ماتی وخوړه، او لیکود گوند چی له عربانو سره د سولی مخالف و بری تر لاسه کړ او له نورو ورو گوندونو سره په ائتلاف کولو یی په اسرائیلو کی حکومت جوړ کړ. دخپل انتخاباتی کمپاین او مبارزی له و خدو او ژمنو سره سم یی د نش په نوم سولی پروسی ته لگته ورکړه او اعلان یی د کړ چی له نیول شویو سیمو څخه به اسرائیل قوځ نه باسی، دفلسطین نش په نوم دولت نشی منلای، دگولان لوړی سوریی ته نشی ور کولای چی دغو خبرو له یوی خوا عربی هیوادونه مجبور کړی چی څه نا څه عکس العمل و ښیی او لږ تر لږه یوه غونډه جوړه کړی څو د اسرائیلو د نوی حکومت دپالیسیو په خلاف یوه کوه متقابله پالیسی تیاره کړی او په دی توگه دخپلو ملتونو په سترگوکی خاوری ور وشندی او ځانونو ته د خپو پوړه گیږدی. [illegible] خبر چی د دوی د خپل منځی اختلافونو له کبله به دغه وړی هم شړی شی او که نه؛ په هر حال داسی معلومیږی چی دعربی سیکولرانو په برخلیک کی د ذلت او محکومیت ټاپه لگیدلی ده، او دغه ټاپه له هغی نیټی نه د دوی په تقدیر کی وهل شوه کله چی دوی ځانونو ته عزت او حاکمیت د اسلام په ځای په نشنلیزم کی وغوښت او شعاریی وړکړ «تمدن العرب و ابنا الفراعنه» او «العزت للعربیه» په داسی حال کی چی الله تعالی د دوی عزت په اسلام او اسلامی نظام کی نغښتی و چی فرمایی: «عزت او غلبه د الله (جل جلاله)، د رسول صلی الله علیه وسلم او د مؤمنانودی» (المنافقون)

همدا راز کله چی مسلمانانو د عرستان ټاپو وزمه فتح، او تر خپل کنټرول لاندی را وسته او هلته یی اسلامی حکومت جوړ کړ د اسلام دوهم خلیفه حضرت عمر رضی الله عنه یو شمیر قوماندانان او مسؤلین راغونډ کړل او یوه لویه بیانیه یی ورته ورکړه چی یوه جمله یی په لاندی ډول وه: «انما اعزکم الله با لاسلام فمهما ابتغیتم العزة فی غیر اذلکم الله»

داچی ناسونه الله تعالی عزت او غلبه ور کړی داسلام په خاطر ده (چی عمل مو پر باندی کړی دی) که چیری ناسی خپل عزت له اسلام څخه پرته په بل څه کی وغوښت، الله به مو ذلیل کړی.

نن چی نږدی نوه نیم سوه میلیونه عربی د پنځه میلیونه اسرائیلو په مقابل کی څومره د ذلت او محکومیت، شپی او ورځی تیروی، یوازنی علت یی دادی چی دوی له اسلام څخه مخ اړولی، په خپلو هیوادونو کی یی په اسلام باندی عمل نه دی کړی، په گوه سره یی یو اسلامی حکومت نه دی جوړ کړی د الله تعالی په ځای یی د نن دیپاره له یدنه څخه مرسته غوښتی ده، د مسلمانانو په ځای یی د اسلام دښمنانو ته د دوستی لاسونه غزولی دی او دهغو په دوستی یی افتخار کړی دی. له همدی کبله ده چی الله (جل جلاله) دوی ذلیل کړی دی که یی یو کفری طاقت په لغتو باندی وهی او که هم بل، پرون د روسانو په لاسونوکی لوبیدل او نن بیا د امریکایانو په لاسونوکی لوبیږی پرون یی د روسانو په پیسو او وسلو مزی او چرچی کولی او نن یی هم د امریکایانو دالرونه سترگی په لار دی وعدی ورکوی، ژمنی کوی چی مسلمانان به ورته وژنی او ترور کوی به یی.

پرون داسحاق رابین او د پیریس شمعون په پښتوکی پراته وو، د حماس د ځکولو او وژلو دنده یی په غاړه اخستله، نن به د بن یامین پښتونه دور تللو لاری چاری لټوی.

له ټولو نه دافسوس خبره داده چی عربان د مسلمانانو په نوم یادیږی او دمسلمانانو په شتمنیو باندی یی خپلی اچولی دی، په خپله عیاشی باندی یی مصرفوی دخپلو هیوادونو او اسلامی نړی مخلص مسلمانان یی په عقلت کی اچولی دی او پایی په فلسطین کی د بیت المقدس له ازادی څخه لری ساتلی دی. نه

پریږدی چی دنړی مسلمانان په نړیواله سطحه د یوهمی قبلی د ازادی دپاره اسلامی تصمیم ونیسی او یو اسلامی اتحاد او یو والی را منځ ته کړی په هغه سر بیره د خواشینی خبره داده چی هر یوه دخپل هیواد اسلامی قوتونه وخپل او لالگیا دی په ټول ټول نوموړی خپی په دی سره یی پخپل لاس د خپل عزت او برم توره ماته کړه، که دوی دخپلو اسلامی او مجاهدو قوتونو تر شا ولاړ وای نو نن به د ذلت په ځای دعزت خاوندان وو خو دا د دوی بدقسمتی ده چی هم یی اسلام ته شاه کړه او هم یی خپله توره پخپل لاس ماته کړه اوس که کوم اسلامی جدی دریځ خپلوی، له خپنو عربی هیوادونو څخه به امریکا خفه کیږی او له خپنو نورو څخه به روس او نور کفری هیوادونه مرورېږی لهذا خبره زړه په زړه ده، دکارگر او لیکود دگوندونو دو اړو هدف یودی چی عربان وهل او ذلیله کول، او مسلمانان شجات کول دی. خو لاری یې سره بدلی دی، روس، امریکا او دنړی کفری ځوا کونه یی مرسته کوی. نو عربی سرمشریزی ته پکار دی چی د سراب په ځای حقیقت ته متوجه شی ■

د کابل ائتلافی اداره...

جنرال طاووس وردگ چی ددغی پروسی د پرمخ بېولو یو فعال غړی دی ددغه شان ځینوکسانو نومونه ښودلی او د دوی له شهرت څخه ښکاری چی دوی د افغانستان په تباهی او بربادی کی فعاله برخه درلوده، خو اوس د کابل ائتلافی اداره غواړی چی د همدغو وړانکارو په مرسته وطن نورهم په کنډوالو پسی بدل کړی.

وېل کیږی چی دنړی له نورو هیوادونو څخه هم ددغه شان کسانو لستونه تیار شوی او ډیر ژر به له هغوی سره هم ورته تماسونه ونیول شی چی البته له دغه اقدام څخه دکابل د ائتلافی اداری د وطن ضد منکوره ډیره ښه ځرگندیږی.

* * *

ربانی او گلبدین...

کی د اسلام او آزادی وږمی د طالبانو د اسلامی تحریک په برکت لگیږی. وریسی د کراچی احسن العلوم د مدرسی شیخ الحدیث مفتی زرولی خان صاحب وویل: موږ چه کوم صفتونه د طالبانو د منطقو او علاقو اوریدلی ؤ او اوس چه دلته راغلو هغه ټول ریښتیا او صلق لری خلک خوشحاله، شریعت نافذ او آرامه آرامی ده، ده وویل چه قاضی حسین احمد ته په کارو مخکی لدی نه چی له ربانی سره وگوری باید مخالفی مقتدری دلی چه طالبان دی ورسره کتلی وای دا چی یوازی له ربانی حکمتیار سره ئی وکتل او دی نوروته ئی نظرهم ونکر دا په حقیقت کی افغان قوم ته د اور تازه کونی په معنی تمامه شوه، وریسی عبدالمنان نیازی په رواتو حالاتو باندی رنا واچوله او هرات ته یی دعلماؤ کرامو راتگ ښتور وباله.

غونډه د محترم مولوی عبدالحق صاحب په دعا پای ته ورسیده.

د برهان الدین گلبدین...

ملت څه ښه امید نکری ځکه چه پر خو داسی ائتلافونه چه دمادیاتو پر بنسټ ولاړ وي ملت لیدلی چه له غوښی ناکامی سره مخامخ شوی دی- او بله داچه دواړو طرفونو په ډیرو اوږیدو را اوږیدو سره د ملت ترمینځ باور او اعتبار د لاسه ورکړی دی او هم ددوی د جنگیالانو ترمینځ زړی عقدی به هم ډیر خطرات رامینځ ته کړی - علاوه پردی تیره شپه د بی بی سی نه اعلان شوه چه د کابل حکومت د پخوانی رژیم محور قوجی جنرالان او هم محور ملکی کسان راغوښتی چه د ملك په بیا آبادولو کښی برخه واخلی - یو خو دا ډیره د شرم خبره ده - او بل ملت پدی پوهیږی چه ملك چاوران کړی او څوك به ئی آبادوی - مولوی نور محمد ثاقب وویل: چه برهان الدین د اداری پامیدکیدل او هم د برهان الدین او گلبدین نوی ائتلاف پر ځای ددی چی د افغانستان مسئله حل کیدوته ور نژدی کړی نور بی هم پیچیده او جنجالی کړځوی - زمونږ په نظر د افغانستان د مسئلی حل یوازی او یوازی د طالبانو له اسلامی تحریك سره تړلی ده او بس ځکه چه یو خو طالبان د فساد د توغی په ویستلو کښی بریالی شول او بل ئی مکمل شرعی نظام نافذ کړی چه وروسره په پوره توگه امنیت تأمین شوی دی او هم پدی آواخرو کښی د ملت یو تیم زرو ۱۵۰۰ برجسته علمأ کرامو د تحریك مشر محترم مجاهد ملا محمد عمر د آخنده د امیر المؤمنین پحیث تعین او وروسره ئی بیعت وکړ - او هم د هغو رهبرانو چه علمی او روحانی شخصیتونه لری کندهار ته تلل او هلته پوره مطمئن کیدل او د برهان الدین اداره د ټولو فسادونو عامل اعلانول - او همداسی نور - دا ټول هغه عوامل دی چه ددی په اثر باید ملت نور د شك منکوره پریږدی او په کلکه د طالبانو د اسلامی تحریك ترڅنگ او شا ودریږی.

تر څو ټول ملك آباد او امنیت تأمین او د الله (جل جلاله) په ځمکه د الله (جل جلاله) نظام نافذ شی.

امریکا با گروه طالبان ...

امریکا بعد از اینکه همهء چیز را در رابطه به گروه طالبان انجام داد اکنون خود از قبول مسؤولیت این پدیده ابا ء میورزد گروهیکه در باره ء آن خانم رافل خیلی خوش باور بود و از آن حمایت میکرد اکنون مورد تائید امریکا نیست امریکا با گروه طالبان مخالف است و در رابطه پاکستانرا ملزم و مورد ملامت قرار میدهد.

خواننده گان عزیز آگاهی دارند که I.S.I که یك سازمان معتبر و قوی اطلاعاتی نظامی پاکستان بوده و به ارتباط جهاد افغانستان به همکاری C.I.A امریکا نقش رهبری کننده و کلیدی را در جهاد افغانستان باز می نمود سازمان متذکره با تمام نیروی نظامی و مالی که در اختیارش به خصوص از طرف C.I.A گذاشته میشد در سدد رشد و تحکیم پایه های حزب اسلامی در افغانستان بود و در قدم دوم جمعیت اسلامی را روی ملحوظات تکتیکی در آغوش میکشید و همه دار مدار نظامی و مالی خود را در اختیار آن دو گروه قرار میداد.

جنرال متذکره در پاکستان یکی از پرستاران قوی و اساسی حزب اسلامی پنداشته میشود اکثر ناظرانرا عقیده برّ اینست که سفر اخیر جنرال متذکره به امریکا غرض جلب نظر و حمایه، امریکا از ائتلاف اخیر میان حزب اسلامی و اداره، کابل بوده که به این ارتباط حمیدگل از آماده گی امریکا از حمایه و تائید ائتلاف مزکور سخن هم به میان آورده است. روی هم رفته معلوم میگردد که ائتلاف حکمتیار و کابل در نتیجه، پلان مشترك جماعت اسلامی پاکستان و حلقات سابقه، T.S.T و خاصتاً شخص حمیدگل روی ملحوظات و منافع به خصوص پاکستان و حلقه های اطلاعاتی و سیاسی متذکره به میان آمده و به همین جهت همه وسایل تبلیغاتی و سیاسی و مالی اداره های متذکره وقف پیروزی ائتلاف متذکره گردیده است.

قابل تذکر است که بعد از روی کار شدن اداره، ربانی در کابل ربانی به الحاح و پافشاری زیاد از جنرال حمیدگل خواست تا به صفت مشاور آن ایفاء وظیفه نماید که در آن وقت برای حمیدگل احراز آن وظیفه مشکل مینمود زیرا حکمتیار در جناح مخالفین مسلح ربانی قرار داشت. گرچه حمیدگل ماموریتهای متعددی ایفاء (اصطلاح) صلح را میان ربانی و حکمتیار ایفاء داشته و هیروی معاهده سروبی میان مسعود و حکمتیار پنداشته میشد که آن نشست و معاهده به ناکامی مطلق و خونین انجامید.

بعد از آنکه تحریك اسلامی طالبان چهار آسیاب را از وجود حزب تصفیه نمود و اکثر را گمان بر این بود که متصل آن کابل سقوط خواهد نمود مسؤلین عالی رتبه و فامیلهای حزب و جمعیت فرار را بر قرار ترجیح دادند که در جمله، آنها جنرال حمیدگل هم با فامیل خود در حالی سرحد افغانستان و پاکستان را عبور میکرد که بشدت از چشمانش اشك میریخت و سقوط چهار اسیاب و سقوط احتمالی قریب الوقوع کابل، آنرا جدی ناراحت گردانیده بود.

خواننده گان عزیز خود میتوانند که اندازه، علاقمندی و شفقت جنرال متذکره را مقابل حزب اسلامی و آقای حکمتیار معلوم دارند.

جنرال صاحب خیلی متعجب بوده که امریکا با گروه طالبان علاقه و دلچسپی نداشته و از آنها حمایه نمیکند، باید این امر مورد تعجب برای آنانی قرار گیرد که مقدرات جهانی را بدست امریکا میبینند و خود روی حکم وظیفوی وابستگی نزدیك با حلقه های مخصوص آن دیار داشته و مدت مدیدی به رهبری امریکا طراح نقشه نظامی و سیاسی جهاد افغانستان پنداشته میشود.

اما برای آنانیکه از اسلام، قرآن و تاریخ اسلام آگاهی دارند، هیچ گاه و به هیچ صورت جای تعجب نبوده و نیست که یهود و نصری و کفار ابداً از مسلمان آنهم طالب دین که به تمام معنی مؤفق به تنفیذ عملی شریعت اسلامی در مناطق وسیع تحت کنترول خویش شده اند و عملاً بر نظام الحادی سیکولریستی حاکم بر جهان خط بطلان کشیده راضی نبوده و نمیباشد بلکه ایمان آنها این است که قرآن به آن به این معنی اشاره می‌فرماید: (هرگز یهود و نصرای از تو (ذات اقدس رسالت) راضی نخواهد شد تا پیروی دین آنها را نکرده باشی). که این حکم در مورد هر مسلمان عام بوده تا وقتیکه به اسلام و دین پای بند باشند کفار از آنها راضی نشده و از اوشان حمایه نمیکنند. الحال که امریکا آماده شده که از حکمتیار و اداره، ربانی حمایه و پشتیبانی نماید باید جنرال صاحب بگوید که چرا و برای چه؟

*****

دربانی اداره د زړه له کومی څخه نه غواړی چی حکمتیار ته په کابل کی رښتینی واك ورکړی

داسی معلومیږی چی حکمتیار به په دوو دریو راتلونکو ورځوکی کابل ته ننوزی

د ربانی او مسعود له نیتونو څخه داسی ښکاری چی غواړی حکمتیار عملاً خلع سلاح او خلع قدرت کړی

د مسکو چاپ یوی مهمی ورځپاڼی فیوډیا د تیری چارشنبی په گڼه کی لیکلی دی چی د ربانی او حکمتیار په ائتلاف کی ناندری زور اخلی. د دواړو خواو تر منځ د بی باوری یو ډیر ښه ثبوت دادی چی حکمتیار تر اوسه پوری کابل ته نه دی داخل شوی او دی ښار ته یوازی د خپلو استازو په لیږلو بسنه کوی.

یوی بلی روسی ورځپاڼی سیودنیا دیو شمیر افغانی کارپوهانو له خولی لیکلی دی چی حکمتیار به اصلاً کابل ته ولاړنه شی او د خپل صدارت چاری به لکه د پخوانی دوری په شان له سروبی څخه اداره کړی او یا به ددی مقام لپاره خپل یو مشهور قوماندان وحیدالله سباوون ولیږی.

فیوډیا ورځپاڼه لیکی چی احمدشاه مسعود زیات کوښښ وکړ چی حزب اسلامی ته د دفاع د وزارت په ورکولو سر بیره هم ربانی د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندان پاتی شی له بلی خوا د حزب له خوا ټاکلی شوی دفاع وزیر به مجبور وی چی په دی وزارت کی د جمعیت د غړی یونس قانونی موجودیت وزغمی.

که څه هم مسعود دا منلی ده چی د خپلو ځواکونو یوه برخه جبل السراج ته په شا کړی خو حزب اسلامی به هم اجازه ونه لری چی وسله وال کسان کابل ښارته ننباسی، که چیری مسعود ریښتیا هم ددی تړون په نتیجه کی جبل السراج ته لاړشی نو ویلی کیږی چی د خاد یو شمیر هغو مانونه (ادوسی) به هم له ځانه سره یوسی چی د ډیرو افغانانو مشخص اسناد او اسرار پکی خوندی دی او مسعود به په هیڅ قیمت دی ته زړه ښه نه کړی چی دغه اسرار د بل چا لاس ته ورشی.

اخبار لیکی چی د ربانی اداره د زړه له کومی څخه نه غواړی چی حکمتیار ته په کابل کی رښتینی واك ورکړی خو که دا کار وشی نو په هغه صورت کی به حکمتیار هم خپل کسان د طالبانو په مقابل کی جگړی ته وته هڅوی.

دا خو کابل ته د حکمتیار د تگ او نه تگ په اړه د روسیی ورځپاڼو نظر و، خو داسی معلومیږی چی حکمتیار به په دوو دریو راتلونکو ورځوکی کابل ته ننوزی، داچی هلته د ربانی او حکمتیار د پخوانی دښمن مسعود له خوا څه ډول چلند ورسره کیږی دا دهغه وخت خبری دی چی انتظار ورته پکار دی. اما سیاسی کتونکی په دی عقیده دی چی که حکمتیار کابل ته داخل هم شی او په ظاهر څه کی څه ناڅه قدرت هم وروسپارل شی خو په باطن کی د ربانی او مسعود له نیتونو څخه داسی ښکاری چی په دی توگه غواړی حکمتیار عملاً خلع سلاح او خلع قدرت کړی چی بیا به هیڅ ډول هلی ځلی ورته گټه و نه شی رسولای.

دهیواد په بیلو بیلو ولایاتوکی یوه زیاته اندازه وسله او مهمات ونیول شول

د هیواد له بیلو بیلو سیمو څخه زمونږ خبریالان خبر راکوی چی په تیرو څو ورځوکی یوه اندازه وسله او مهمات د امنیتی ځواکونو له خوا نیول شوی او مربوطو ځانگو ته سپارل شوی دی.

د هلمند ولایت د سنگین د ولسوالی په خبر کی ویل شوی چی په وسلو او مهماتو بار دری موټر چی دیو شمیر خاینو سوداگرو له خوا بهرته وړل کیدل دهغی ولسوالی د مؤظفینو له خوا ونیول شول او د اسلامی تحریك امنیتی ځواکونو ته وسپارل شول.

دغه راز د هلمند دسنگین په ولسوالی کی ۱۲۲ میله کلاشنیکوف، یو میل راکټ، یو میل ثقیل ماشیندار له زیاتی اندازی مهماتو سره په دوو موټروکی بار او د لیږدولو په حالت کی وو دهغی ولسوالی د امنیتی ځواکونو له خوا کشف او ونیول شول، قضیی تر تحقیق لاندی دی او وسله دتحریك د مؤظفینو له خوا ضبط شوه او د اسلامی تحریك د ځواکونو له خوا په ډیره ځیرکتیا سره د تخریبکارانو د عملونو څارنه کیږی.

په سلگونو جریبه ځمکه له ماینونو څخه پاکه شوه

ماینونه هغه ړوند دښمن دی چی دوست او دښمن نه پیژنی هر څوك چی ورسره په تماس کی شی له منځه یی وړی، روسانو او د هغوی غلامانو نه یوازی زمونږ وطن په کنډواله بدل کړ بلکی دومره زیات ماینونه یی په ځمکه کی راته وکرل چی هره ورځ زمونږ زیات شمیر هیوادوال او څاروی یاله منځه وړی او یا یی معیوبوی

له کندهار څخه زمونږ خبریال خبر راکوی چه د هیوادوالو ددغه مشکل دله منځه وړلو لپاره دماین پاکولو پروسه په چټکی سره مخ په وړاندی روانه ده او تیره اوونی هم د اسلامی تحریك د ټانکونو په واسطه ۸۵ ماینونه خنثی او په سلگونه جریبه ځمکه د هغوله خطر څخه پاکه شوه.

خبریال زیاتوی چی د ماین پاکولو پروسه نه یوازی په کندهار بلکی په نورو ټولو هغو سیموکی هم روانه ده چی د طالبانو داسلامی تحریك په کنټرول کی دی.

د گډون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امریکا	$: 75	$: 150

SHARIAT WEEKLY
Publisher . Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor in Chief : Movlavi Ahmad Jan.
Tel : 840378
PAK - RUPE A/C. CD. No. 1693-69.
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan

یادونه

ستاسو ایمان به اجازه در نکړی چی دا دول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی.

(اداره)